# له تحریفه د قرآن پاکي

لیکوال:

**السید عبدالرحیم الموسوي**

مترجم : محمدرحیم درانی

Download from:aghalibrary.com

قَالَ اللّهُ تَعَالى:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً﴾

«سورة الأحزاب/الآية ٣٣»

پاک الله فرمايي:بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د ( رسول ) اهلبيتو(ع) له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنگه چې د پاکی حق دے.

د پيغمبراکرم صلی الله عليه واله هغه ډير حديثونه چې د شيعه ؤ او سنيانو په سرچينو کې راغلي دي په دې دلالت کوي چې دا مبارک ايت د پنجتن پاکو په اړه نازله شوی ده او اهل بيت ټکي نه مراد همدغه پينځه کسان ياني محمد (ص) حضرت علي عليه السلام ، بي بي فاطمه الزهراء سلام الله عليها، حضرت امام حسن او حضرت امام حسين دي. د شيعه او سنيانو ځينې سرچينې بيانوو.

مسند احمد (۲٤۱هـ) لومړی ټوک مخ ۳۳۱، څلورم ټوک مخ ۱۰۷، شپږم ټوک، ۲۹۲ او ۳۰٤ مخونه، صحيح مسلم (۲٦۱هـ) اووم ټوک مخ ۱۳۰؛ سنن ترمذي (۲۷۹هـ) پينځم ټوک ۳٦۱ مخ او .....؛ السنن الکبری النسايي، (۳۰۳هـ) پينځم ټوک ، ۱۰۸ او ۱۱۳ مخونه؛ الذريه الطاهره النبويه دولابي (۳۱۰هـ) مخ ۱۰۸؛ المستدرک الصحيحين حاکم نيشاپوري (٤۰٥هـ) دوهم ټوک مخ ٤۱٦ او دريم ټوک ، ۱۳۳ او ۱٤٦ او ۱٤۷ مخونه؛ البرهان زر کشي (۷۹٤ هـ) ۱۹۷؛ فتح الباري شرح صحيح بخاري ابن حجر عسقلاني (۸٥۲هـ) اووم ټوک مخ ۱۰٤؛ اصول کافي کليني (۳۲۸هـ) لومړی ټوک مخ۲۸۷؛ الامامة والتبصرة ابن بابويه (۳۲۹ هـ) ټوک ٤۷ حديث ۲۹؛ دعايم الاسلام مغربي (۳٦۳هـ) ۳٥ او ۳۷ مخونه؛ الخصال الصدوق (۳۸۱ هـ) ٤۰۳ او ٥٥۰ مخونه؛ الامالی طوسي ، ٤۳۸ او ٤۸۲ او ۷۸۳ حديثونه؛ او همدارنگ د دې ايت تفسير کې لانديني تفسيرونو ته مراجعه وکړئ: جامع البيان طبري (۳۱۰هـ)؛ احکام القران جصاص (۳۷۰هـ)؛ اسباب النزول واحدي (٤٦۸هـ)؛ زاد المسير ابن جوزي (٥۹۷هـ)؛ الجامع لاحکام القران قرطبي (٦۷۱ هـ)؛ تفسير ابن کثير (۷۷٤ هـ)؛ تفسير ثعالبي (۸۲٥هـ)؛ الدر المنثور سيوطي (۹۱۱هـ)؛ فتح القدير شوکاني (۱۲٥۰ هـ)؛ تفسير عياشي (۳۲۰ هـ)؛ تفسير قمي (۳۲۹ هـ)؛ تفسير فرات کوفي (۳٥۲ هـ) د اولو الامر ايت په تفسير کې؛ مجمع البيان طبرسي (٥٦۰ هـ)؛ او داسې نور ډير کتابونه...

قَالَ رَسُولُ اللهِ | :

**إني تاركُ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأَنَّهُما لَن يَفترِقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ.**

رسول الله (صلّى الله عليه وَ آله) وفرمايل:
زۀ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څيزونه پريږدم: يـو د خداے کتاب (قران) او بل زما اهلبيت، که چيرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به يو له بله جدا کيږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسيږي.
دا شريف او متـواتر حـديث پـه متـواتره توګـه پـه ډيـرو اسلامي سرچينو او د حديثونو په کتابونو کې راغلی دی چې ځينې يې دا دي:
(صحيح مسـلم، ۷ ټـوک، ۱۲۲ مـخ، سـنن دارمـــــي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسـند احمـد، ۳ ټـوک ، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونـه، ۴ ټـوک ، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونـه، ۵ ټـوک ، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـــاکـم، ۳ ټـوک ، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شورو کوم) د الله په نوم چې

ډیر بخښونکی مهربان دی

## فهرست


د غونډې خبرې.......................................................................................۷
لومړۍ خبره...........................................................................................۹
وړاندوینه ..............................................................................................۱۱
لومړۍ څپرکی: د پیغمبر(ص) په وخت کښې د قرآن لیکل ...........................۱۷
هغه روایتونه چې د ابوبکر په زمانه کښې د قرآن جمع کولو ته اشاره کوي
.............................................................................................................۲۱
دویم څپرکې: د خدای د رسول په وخت کې د قرآن راغونډیدل .................۲۵
دریم څپرکې: په قرآن کې د تحریف د احتمالاتو څیړنه ...............................۴۱
څلورم څپرکې: د قرآن له تحریفه د سلامتۍ په هکله د اسلامی عالمانو
څرګندونې ............................................................................................۵۳
پینځم څپرکې: د تحریف د شبهې د رامنځته کیدو سببونه..............................۶۹
شپږم څپرکې: د تحریف د روایتونو په وړاندې دریځ...................................۷۱

## د غونډې خبرې

هغه ګران بيه ميراث چې اهلبيتو(ع) له ځانه وروسته پريخے دے او د هغوي لارويانو هغه له ورک شونې څخه ساتلے دے د مکتب يوه کامله بيلګه ده چې د اسلامي علومو بيلا بيلې څانګې لري. او د علم ډير تږي يې له دې چينې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان يې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبيتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بيلا بيلو سوالونو، شبهو فکري بې لاريو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پيړيو کې يې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري يې اختسې ده ـ د رسالت له حريمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندے شوے ده. هغه حقيقتونه چې د بيلا بيلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو هميشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړے دے. د اهلبيتو نړيواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبيتو(ع) د ريښتني لارويانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې هميشه دې تهمتونو لرې کولو ته تيار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانے د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر کې پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې ښه د اهلبيتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخيره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاويږي. ځکه چې دا تجربې او دليلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځايه تعصبه پاک دي،

متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاك فطرت دا دليلونه ومني او قبول يې کړي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې دا کوښښ کړے دے چې د دې تجربو نوې ټوك، د دې زمانې د محققانو، ليکوالانو او د هغه کسانو چې د اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول کړے دے، کتابونه چاپ کړي او د حقيقت د چينې تږو ته يې وړاندې کړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليکل شوې کتابونه او تحقيقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقيقت د لټوونکو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کيدو دے، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفے غونډې پريخي دي غوږ کيږدي.

## لومړۍ خبره

په اوسني پېر کې چې د تمدنونو د ټکر زمانه ده، هر مکتب چې د تبليغ له اغيزمنو رودو په استفادې سره خپل نظريات خپاره کړی شي په دې ډګر کې به مخکښ وي او د نړيوالو پر ليدتوګو به اغيزه وشيندي.

په ايران کې د اسلامي انقلاب له کاميابۍ وروسته د نړيوالو نظرونه يو ځل بيا اسلام، د تشيع فرهنګ او د اهل بيتو مکتب ته واوړيدل، دښمنان د دغه فکري او معنوي طاقت د ماتولو او دوستان او پلويان له انقلابي او کلتوري حرکته د بيلګه اخستلو لپاره د دغه سوچه او تاريخ ساز فرهنګ ام القری ته هيلمن شول.

د اهل بيتو نړيوالې ټولنې د عصمت د کورنۍ د لارويانو د پيوستون، هم فکرۍ او ملګرتيا د ضرورت په احساسولو سره او د نړۍ له شيعيانو سره د فعالو اړيکو د برابرولو او د شيعيانو د لوی، کارنده او نوښتګر څواک او د جعفري مذهب د پوهانو په کارولو سره په دې ډګر کې ګام کيښوده، چې د غونډو او کانفرنسونو د جوړولو او دکتابونو د خپرولو او د اثارو د ژباړلو او د شيعه تفکر په ميدان کې د اطلاع رسولو له لارې د اهل بيتو فرهنګ او سوچه محمدي اسلام پراخ او دود کړي. دخدای شکر چې د په دې حساس او فرهنګ جوړوونکي ډګر کې د رهبرۍ د ستر مقام حضرت ايت الله خامنه ای «مدظله» په ځانګړو لارښوونو سره مهم ګامونه پورته شوې او هيله ده په راتلونکې کې، دا نوراني او سوچه حرکت لا خوځنده او غوړيدلی وګرځي. او ننی نړۍ او د قران او عترت د سوچه

معارفو او تعلیماتو تږی بشریت د دغه مکتبی معنویت او عرفانی مکتب او ولایي اسلام له رڼې چینې برخمن او خروب شي.

یقین لرو چې د اهل بیتو د فرهنګ سم، تخصصي، منطقي او مضبوط وړاندې کول د رسالت د کورنۍ او د بیدارۍ، خوځښت او معنویت د بیرغوالو تل پاتی میراث نړیوال ته وروپیژني او له ماډرن جهالت او نړۍ خوارو د خپلو سریو او د اخلاق او انسانیت ضد کلتور څخه ستړې نړۍ د ظهور د زمانې په درشل کې د زمانې د امام د نړیوالو حکومت تږی وګرځوي.

له دې امله، په دې لاره کې له تحقیقي اثارو او د څېړاندو او لیکوالانو له عملي هڅو هرکلی کوو او ځانونه دهغو مولفانو او ژباړنو خدمتګزاره ګڼو چې د دغه لوړ فرهنګ د خپراوي په لاره کې هڅه کوي.

خوشاله یوو چې یو ځل بیا د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې یو څېړنیز اثر د «فی رحاب اهل بیت» په نوم سره چې د دې سپیڅلې ادارې د ارزښتمنو څېړاندو د زیار میوه ده او د قدرمنو ژباړنو په پیاوړو متو او هڅې او هاند سره پښتو ته اړول شوی تاسو عزتمنو ته وړاندې کړو او د قدرمنو مولفانو او ژباړنو لپاره د توفیق دعا وکړو.

دلته د ژباړې په څانګه کې له هغو ټولو دوستانو او ربښتینو همکارانو او ملګرو چې د دغه کتاب په پنځولو کې یې هڅه کړې، د زړه له کومې مننه او قدرونه کوو، ښایي د کلتوري جهاد په ډګر کې دا وړوکی شان ګام د ولایت د څښتن د رضا وړ وګرځیږي.

**د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې کلتوري څانګه**

## وړاندوینه

ټول مسلمانان په دې خبرې یوه خله دي چې دا موجود قرآن هماغه اسمانی کتاب دی چې هیڅ باطل پکې نشته.

حضرت امام علی علیه السلام چې د پیغمبر روزل شوی دی، قرآن په هکله فرمایي:

«ثم أنزل علیه الکتاب نوراً لاتطفأ مصابیحه و سراجاً لایخبو توقّده... و شعاعاً لایُظلِمُ ضَوْؤه و فرقاناً لایُخمَدُ برهانه و تبیاناً لاتهدم ارکانه... معدن الایمان و بحبوحته و ینابیع العلم و بحوره... و اثافي الاسلام و بنیانه... و أعلام لایعمی عنها السائرون... جَعَلَهُ اللهَ ریاً لعطش العلماء... و دواءً لیس بعده داءٌ و نوراً لیس معه ظلمة و حبلا وثیقاً عروتُهُ، و معقلا منیعاً ذروته و عزّاً لمن تولاه و سلماً لمن دَخَله و هدی لِمَن ائتمَّ به و علماً لمن وَعی... و حُکَما لِمَنْ قضی.»[1]

قرآن هغه نور دی چې هیڅ کله نه مړ کېږی، یو داسې څراغ دی چې څلا یې زوال نه لري، یو داسې دریاب دی چې ژورتیا یې په لاس نه راځی، یوه داسې لار ده چې په هغه لاره تلونکې گمراه نه کیږي، یو داسې شغله ده چې نور یې تیاره کیږی نه، د حق او باطلو داسې جدا کوونکی دی د هر یو دلیل څلا یې مړه کیږی نه، یوه داسې ودانې ده چې ستنې یې نه خرابیږی، یو داسې شفا ورکوونکې دی چې ویرونکي ناروغی له منځه

---

۱. نهج البلاغة: خطبه ۱۹۸، ترجمه محمد دشتی.

وړي، يو داسې طاقت دی چې ملګري یې ماته نه خوري و یو داسې حق دي چې مرستیال یې ماتې نه خودي.

قرآن، د ایمان اصل او کان دی. د علم او پوهې سرچینه ده. د عدالت سرچینه او د عدل جاری نهر دی. د اسلام بنسټ او مزبوته ستنه ده.

د حقیقت او د هغې د ډګرونو جاري نهر دی. یو داسې دریاب دی چې د هغې تږي یې ټولې اوبه نه شي څښلې. یوه داسې چینه ده چې اوبه یې نه کمیږي، د اوبو اخستلو یو داسې ځای دی چې څومره اوبه ترې واخستې شي بیا هم نه کمیږی، یو داسې منزل دی چې د دې لارې مسافر به هغه هیر نه کړي. داسې نښانې دي چې تلونکي ترې غفلت نه کوي یوه داسې ښکلې غرمنځې او دره ده چې څوک ترې نه تیریږي.

خدای پاک د پوهانو د علمی تندې ماتولو او د فقیهانو او عالمانو او نیکانو په زړه باندې د سپرلي د باران په څیر قرآن نازل کړی. قرآن یو داسې دارو دي چې ورسره ناروغی نه راځي. یو داسې نور دی چې ورسره تیاره ورکیږی. یو داسې رسی ده چې پړي یې مزبوت دي، یو داسې د پناه ځای دی چې غرونه یې لوړ دی، د امن ځای دی د هغه چا لپاره چې دې ته ننوځي. یو داسې راهنما دي چې باید لارویی یې وشي. یو داسې دنده ده چې باید د خپل ځان لپاره رسم او دود جوړ کړې شي. یو داسې دلیل او برهان دی چې ورسره خبرې وکړې شي. د بریا لامل دی د هغه چا لپاره چې ورسره استدلال کوي. ژغورونکی د هغه چې د قرآن حافظ وي اوورباندې عمل وکړي او د هغه چا لارښوونکی دی چې په کار یې راولي او د هدایت نښه ده د هغه چا لپاره چې پکښې نناره وکړي. او ډال دی د هغه چا لپاره چې ځان ورسره پټ کړي و د هغه چا پوهه ده چې

حفظ یې کړي او د هغه چا حدیث دی چې له هغې نقل وکړي او د هغه چا حکم دی چې ورسره قضاوت او فیصله وکړي.

او په ۱۷٦ خطبه کې فرمايي:

«واعلموا انّ هذا القرآن هو الناصح الذي لایغشّ، و الهادي الذي لایُضلُّ، و المحدِّث الذي لایکذب... و إنَّ الله سبحانه لم یَعِظ أحداً بمثل هذا القرآن، فانه حبل الله المتين و سببه الأمین، اذ فیه ربیع القلوب و ینابیع العلم و ماللقلب جلاءٌ غیره.»

خبر وسئ! بیشکه چې د قرآن، یو داسې پند ورکوونکی دی چې فریب او دهوکه نه خوري او یو داسې هدایت کوونکی دی چې انسان نه بې لارې کوي. او یو داسې وینا وال دی چې هیڅکله دروغ نه وایی. هر څوک چې قرآن سره ناست دی نو هغه ته یې یو څه ورزیات کړی او یو څه یې ترې کم کړي، د هغه هدایت یې زیات کړي او ګمراهي یې ترې کمه کړې ده. خبر اوسئ! څوک چې قرآن ولري نو هیڅ ته نیاز نه لري او څوک چې قرآن نه لري نو بې نیازه کیږی به نه. نو د خپل درمل له قرآنه وغواړئ او په سختو کښې له قرآنه مرسته وغواړئ او په قرآن کښې د لويو ناروغو، یعنې د کفر او نفاق او سرکښی او بې لارۍ درمل شته.

نو د قرآن په وسیله، خپلې غوښتې له خدایه وغواړئ او د قرآن دوستی سره خدای ته مخ کړئ او د قرآن په وسیله د خدای له مخلوقاتو څه وغواړئ، ځکه چې خدای ته د نزدې کیدو لپاره له قرآنه غوره وسیله بله نشته. خبر اوسئ! د قرآن شفاعت قبلیدونکی او خبرې یې رښتوني دي.

هغه کس چې په قیامت کښې یې قرآن شفاعت وکړي هغه بخښل کیږي، او هغه کس چې قرآن له هغه شکایت وکړي، ورته سزا ورکول کیږي...

بیشکه چې خدای پاک، هیچا ته په بل څه دومره پند نه دی ورکړې لکه په قران چې یې ورکړی دی ځکه چې قرآن د خدای پاک مزبوطه رسۍ او د خدای پاک د امن رسۍ ده.

قرآن د زړه بهار او د پوهې سرچینه ده. د زړه لپاره بې له قرآنه بله ځله نشته په بیله توګه په هغه ټولنه کښط چې ویخ زړونه له دنیا تللي دي او غافلان او غافلوونکي موجود دي.

طبیعی ده چې یو داسې کتاب سره چې هدایتوونکی او روښانه کوونکی کتاب وي چې د اسلام لوړ کلتور یې جوړ کړی دی، دښمنان ولري چې ورسره بغض او کینه وکړي او هغوي په دې لټه کښې وي چې د دې کتاب په سند او دلالت کښې شک او تردید رامنځته کړي او د دې اعتبار او اهمیت له مینځه یوسي. د قرآن مجید د دشمنانو شیطانی نقشه دا ده چې د هدایت او رڼا په ځای ضلالت او ګمراهی راولي او خلک د خدای له دې لوي نعمته محروم کړي، خو خدای پاک اراده کړې ده چې نور یې فراخ شي، که څه هم کافران ورباندې خوشحال نه وي.

د قرآن مجید د تحریف شبهه له دوه اړخه څیړلې شو:

یوه ځل د دین دننه نظر سره: دا لاره د هغه چا لپاره ښه ده چې په پیغمبر او قرآن ایمان او باور لري او په هغه روایتونو مطمئن شي چې کوم د پیغمبر(ص) او امامانو له خوا د تحریف د نه شونې په هکله راغلی دی.

له دینه بهرني نظر سره: دا لاره د هغه چا لپاره ده چې په قرآن مجید او پیغمبر(ص) باندې هیڅ باور او ایمان نه لري. په دې طریقه کښې بحث د طبیعی حالاتو پر اساس ترسره کیږي او په دینی روایتونو سره دلیل نه شي راوړی. روښانه ده چې د دین دننه نظر د مسلمانانو لپاره او له دینه بهرنې نظر د ټولو کسانو لپاره حجت او دلیل دی.

لومړۍ طریقه د تاریخ په اوږدو کښې د اسلام عالمانو په کار اخستی دی او د هغوی روایتونو او قرآنی آیتونو سره دلیل راوړی دی چې قرآن کې تحریف نشته.

دویمه طریقه طبیعي حالاتو ته پام ترسره کیږی. دلته په شپږو څپرکو کې په دویمه طریقه سره د دغې موضوع څېړنه کوو:

لومړی څپرکی: د پیغمبر(ص) په وخت کښې د قرآن لیکل

دویم څپرکی: د پیغمبر(ص) په وخت کښط د قرآن راغونډیدل

دریم څپرکی: د تحریف د راتلو په صورت کښې مناقشه

څلورم څپرکی: د اسلام د عالمانو څرګندونې چې قرآن له تحریفه پاک دی

پینځم څپرکی: د تحریف د شبهې د رامنځته کیدو لاملونه

شپږم څپرکی: د تحریف د روایتونو څېړنه

## لومړۍ څپرکی:
## د پیغمبر(ص) په وخت کښې د قرآن لیکل

ډېر شهادتونه او قريني لرو چي په څرګنده په دې دلالت کوي چې قرآن مجید د پیغمبر په ژوند کښې لیکلې شوې و. هغه خاص حالات چې پیغمبر(ص) او مسلمانانو په کې ژوند کاوه، د هغې حالاتو غوښته دا وه چې پیغمبر(ص) په خپل ژوند کې قرآن مجید راغونډ کړي؛ ځکه چې:

الف( قرآن کریم د اسلامی امت لپاره د یو اساسی قانون په توګه و چې په کښې اسلامی باورونه، کلتور او حکمونه وو. له دې پرته قرآن یوه مزبوته تاریخی سرچینه او د ادب له مخې له ټولو بلیغ متن و او د لومړي وخت مسلمانانو بې له دې کوه سرچینه هم نه لرله چې په کې غور او فکر وکړي، او له همدې مخې قرآن مجید د فکر او ټولنیزو چارو لپاره یوازینې سرچینه وه.

د مثال په توګه، اسلامی امت په لومړیو کې د خدای د وحدانیت عقیده او د هغه د صفتونو او په نړۍ باندې د هغه د علم او د نورو دینونو د انحرافاتو له خبریدو لپاره یوزینې سرچینه همدا قرآن وه.

دا خبره مونږ ته دا ښایی چې قرآن مجید په مسلمانانو کې یو خاص اهمیت درلود او دا راته څرګندوي چې مسلمانانو د یو امت په توګه قرآن ته څه رنګ کتل.

ب( مسلمانان په هماغه لومړیو کې د قرآن مجید په حفظ اخته شو ځکه چې قرآن ته یی یو ځانګړې مقام ورکړې و او د هغوی په ټولنیز ژوند

کې قرآن مجید یو خاص رول درلود او د هغوی د ټولو انسانی او ارزښتي چارو محور همدا قرآن ګڼل کیده. د قرآن د خاص مقام په سبب ډیرو کسانو ټول قرآن حفظ کړی و او د حافظ په توګه یادیدل چې په راتلونکیو بحثونو کښې به ورته اشاره وکړو.

ج( د خدای رسول د اسلامی امت تر مینځ ژوند کاوه او د هغوی په غم او خوشحالۍ کې شریک و. هغه حضرت په ښه توګه د اسلامی امت له اړینو خبر و او کوم لوي مسولیت چې ورپه غاړه شوی و له هغې ښه خبر و. هغه ته دا پته وه چې اسلامی امت ته چې یو نوې امت دی کومې ستونزې او خطرې مخامخ دي هغه د بعثت د هغه لومړیو ورځو د مسلمانانو په غمونو کښې هغوي سره شریک و او تر وفات پورې له خلکو جدا نه شو. هغه ته هغه ټولو ستونزې معلومې وې چې کومې د اسلام د تبلیغ په لاره کښې لامنځته کیدې او فکری، سیاسی او ټولنیزو ستونزې یې لیدلی.

نو داسې انسان چې د ژوند ټول حقیقتونه او پیښې یې په خپله لیدلې و او په خپله یې د رسالت او د خدای په لور د بلنې ذمه یې په اوږو وي او په سختو حالاتو کې یې د انسانانو هدایت په غاړه اخستی وي او په کلونو یې د یو نوی اسلامی حکومت مسولیت په ښه طریقه سر ته رسولې وی او د دشمنانو د کلتوري او فوځي جنګونو مخه یې به ټول توان سره نیولې وي، نو آیا له داسې کس دا خبره قبلولې شو چې هغه به قرآن مجید همداسې پریښې وي؟ ایا دا ممکنه ده چې هغه به د قرآن د حفاظت لپاره کوم فکر نه وي کړی؟

د( له بلې خوا د پیغمبر(ص) لپاره د لیکلو ټول امکانات موجود وو. په هغه وخت کې داسې کسان د پیغمبر(ص) شاو خوا ته موجود وو او د لیکلو اوزار لکه قلم او کاغذ (څرمنې لرګي وغیره) هم موجود وو او که تاریخ ته وګورو نو په دې کې څه شک نه پاتې کیږي چې په هغه زمانه کښې مسلمانانو د لیکلو اوزار لرلو.

هـ( له دې پرته باید د قرآن په حفاظت کښې د پیغمبر(ص) خلوص او ټینګار ته هم پاملرنه وکړو، هیڅوک د پیغمبر(ص) به اخلاص او هڅې کې شک نه لري، که څه هم ډیر شکمن او زر باور نه کوونکی وي. ځکه چې پیغمبر(ص) په ډیرو بدو حالتو که هم قرآن مجید ته بې پامې نه کوله، ځکه چې قرآن مجید د پیغمبر(ص) تل پاتې معحجزه او د هغه د رسالت د ثابتولو وسیله او د غیبو نړۍ سره د هغه رابطه وه او د قرآن په وسیله به یی کافرانو سره جنګ کاوه هغه چې په قرآن داسې ایمان او باور درلود، نو طبیعی خبره ده د هغه په حفاظت به حریص و ډیر خلوص به یی درلود.

دغه پینځه خبرې چې ورسره د قرآن اهمیت څرګندیږي، لکه د نه لیکلو په حالت کښې د بدلون خطره، او د پیغمبر(ص) له دې خطرې خبریدل، د لیکلو د اوزارو شتون او د پیغبر د قرآن په حفاظت حریص شونه، مونږ دې یقین ته رسوي چې د قرانې راغونډول او لیکل د پیغمبر(ص) په وخت کې ترسره شوي دي.

## هغه روايتونه چې د ابوبکر په زمانه کښې د قرآن جمع کولو ته اشاره کوي

داسې روايتونه نقل شوی دی چې په کې دې ته اشاره چې قرآن مجيد د ابوبکر د خلافت په وخت کښې جمع شوی او ليکلی شوی دی. په دغه وخت کې هغه قرآنی آيتونه په لرگو، د کجورې په پوستکي او د اوښانو په هډوکو او کودړکو وغيره ليکلی شوی وو، راغونډ کړې شول او هغه آيتونه چې د مسلمانانو حفظ وو، د دوو شاهدانو په گواهی سره چې دا قرآن دی، راغونډ کړې شول. دا خبره په يو نقل کې له زيد بن ثابت نه نقل شوې ده او همدارنگ په نورو روايتونو کې هم راغلې ده.

حقيقت دا دی چې کوم روايتونه چې د قرآن په راغونډولو په هکله نقل شوی دی يو کالب او مضمون نه لري. دا روايتونه په دې هکله مختلف دي چې کومو کسانو قرآن راغونډ کړی دی.

همدارنگ د راغونډيدو په وخت او طريقې او د ختميدو په وخت کې هم اختلاف لري.[1]

له همدې اختلاف او ټکرې په سبب، هغه روايتونه چې د ابوبکر په وخت کې د قرآن راغونډول ښايی له اعتبار غورځيږي او کيدی شي د هغوی د شتون سبب په دې دوو سببو کې يو وي.

---

۱. البيان فی تفسير القرآن: مخ ۲٤۷ ـ ۲٤۹.

لومړی) دا روایتونه دا وایي چې قرآن مجید د یو کتاب په شکل کې چې منظم مخونه ولري د ابوبکر په وخت کې راغونډ شو او دا نه وایي چې لیکل او د آیتونو راغونډول چط د لیکلو تر حده وی او په بیلا بیلو مخونو وي او هغه څه چې د اصحابو یاد وو د ابوبکر په وخت کې ترسره شوی وي. دا یو داسې کار دي ځینې حدیثونه دې ته اشاره کوي.

دا تفسیر په دې اساس دی چې په لنډه توګه مو د دې حدیثونو صحیح شونه منلی وی، یعنی دا ومنو چې د راغونډولو او په مخونو باندې به منظمه او برابره توګه د لیکلو کار د پیغمبر(ص) په وخت کښې ترسره شوی وي.

دویمه) دا روایتونه هغه کیسې دي چې د اصحابو له وخته وروسته جوړې شوي دي چې د مسلمانانو د دې تندې ځواب ورکړي چې د قرآن مجید د غونډیدو د څرنګوالي په هکله یې لرله.

مونږ د اسلامی تاریخ په تحلیل او تحقیق سره دې خبرې ته رسیږو چې د اسلام په تاریخ کې یو لوی ادبی حرکت راغلی چې هغه پیښې چې مسلمانان ورسره د اسلام په لومړیو کې مخامخ وو، د یو کیسې په توګه ولیکي چې دوه غبرګې اثر ولري او زړه راکښونکې وي. او تر دې چې دا کار یې د جاهلیت د پیښو په هکله هم کړی دی. البته دا کیسې د اصحابو په اخري وخت کې په دینی چوکاټ کې شورو شوې او د تابعینو په وخت یې پراختیا وموندله او زیاتې شوې او په وروسته وختونو کې لا زیاته پراختیا وموندله. له بده مرغه دا کیسې پر اساسی توګه له اسرائیلیاتو، وهمونو او خلاتو جوړې شوي دي چې دا هڅه به یې کوله چې د خاص

سیاسي، ټولنیزو یا شخصي غرضو دود جوړ کړي او دغه غرضونو ته ورسیږي.

کیسې جوړول کوم نوې کار نه و چې په اسلام کې جوړ شوی وي؛ بلکه په بیلا بیلو تاریخي وختونو کې عامو خلکو په بیلا بیلو ملتونو کې دې ته ګروهنه لرله. دا ګروهنه له ډیر وړاندې نه موجوده وه او په دې وخت کې یې هم مونږ ګواه یو چې بیلا بیلې پیښې په خیالی قالب کې او خیالی کیسو کې بیانیږي او په اصل کې د یو خاص غرض په توګه جوړیږي او زمونږ په ټولنه کې خپریږي.

که څه هم مونږ دا خوښه وو چې د دې حدیثونو په تفسیر کې لومړۍ طریقې ته ګروهنه ولرو خو کوم خنډ نه وینو چې دویم تفسیر یې هم بیان کړو او د دې حدیثونو د څیړنې لپاره هغه یو بیل موضوع وګرځوو.

له دې پرته نورو داسې حدیثونو سره مخامخیږو چې دا څرګندوي چې د قرآن راغونډیدل او لیکل د پیغمبر(ص) په وخت کې ترسره شوي وو او دا حدیثونه د دې وړتیا لري چې هغه حدیثونو سره مقابله وکړي کوم چې د ابوبکر په زمانه کې د قرآن د راغونډیدو په هکله دي.

## دویم څپرکی:
## د خدای د رسول په وخت کې د قرآن راغونډېدل

د شیعو عالمان په دې خبره ټول یوه خله دي چې قرآن مجید د پیغمبر(ص) په وخت کې راغونډ شوی دی او هغه حضرت(ص) له دنیا نه و لاړ مګر له دې وروسته چې کوم څه چې یې په زړه کې وو، د قرآن حافظانو ته، چې ډیر کسان وو ورزده کړل او په هغه صحیفو کې یې ولیکل چې په هغه وخت کې موجودې وې. دا هغه مطلب دی چې د یو ضروری کار په توګه پېژندلی شوی دی او د اهل سنتو ډیر عالمان شیعو عالمانو سره په دې خبره یوه خله دي او په دې خبرې باندې ډیرې قرینې او ګواهی او روایتونه شته چې دلالت ورباندې کوي چې ځینو ته یې اشاره کوو:

۱. د پیغمبر(ص) او اصحابو د قرآن حفظ او تعلیم او قرآئت او تلاوت ته د نازلیدو سره سم، اهمیت ورکول. له هغه روایتونو چې د خلك د قرآن حفظ او تلاوت ته هڅوي یو دا روایت دی چې فرمایی:

مَنْ قَرَأَ القرآن حتی یستظهره و یحفظه، أدْخَلَهُ الله الجنّه و شَفَّعَهُ فـي عشرة من اهل بیته کلهم قد وجبت لهم النّار.[1]

---

۱. البیان: ټوک ۱، مخ ۸۵.

ځوک چې قرآن ولولي تر څو چې وربانديې پوه شي او حفظ يې کړي، نو خدای پاک هغه جنت نه ننباسی او د داسې لسو خپلوانو په هکله شفاعت قبلوي چې په هغوي بانديې د دوزخ اور واجب شوی وي.

په دې هکله د قرآن د تعليم په هکله ډير زيات حديثونه راغلی دی چې د شمېر وړ نه دي. له عباده بن صامت راغلي دي:

کله چې به هم يو کس مدينې ته راغی نو پيغمبر(ص) به هغه يو مسلمان ته حواله کړ چې قرآن ورته زده کړي او همداسې حال و چې د خدای د رسول په جومات کې به د قرآن مجيد د تلاوت په سبب ډير شور و تر دې چې د خدای رسول يوه ورځ حکم وکړ چې خپل اوازونه مو ورو کړئ چې اوازونه مو سره نه ګډوډيږي او غلط نه شئ.[1]

د خوند خبره دا ده چې د پيغمبر(ص) صلی الله عليه و آله د ډيرو هڅو او کوششونو په سبب او قرآن ته د بيا بيا بلولو او د هغې د حفظ ته د تشويقولو په سبب ډيره مسلمانان په ډير کم وخت کې د قرآن حافظان شول. د قرآن حافظان، د خدای د رسول په وينا چې دې پرته چې ډير لوي اجر او ثواب يې ترلاسه کولو د خدای د رسول او نورو کسانو تر مينځ به يې هم ځانګړې مقام دلود. د قرآن د ډيرو حافظان د شتون په هکله همدا خبره کافی ده چې د بئر معونه په پيښه کې چې د پيغمبر(ص)

---

۱. مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲٤۲؛ مسند احمد: ټوک ٦، مخ ٤٤۲؛ تاريخ القرآن، الصغير: مخ ۸۰؛ مباحث فی علوم القرآن: مخ ۱۲۱؛ حياة الصحابة: ټوک ۳، ص۲٦۰؛ مستدرک حاکم: ټوک ۳، مخ ۳٥٦.

په وخت کې ترسره شوه له اویاو زیات د قرآن حافظان شهیدان شول او د خدای د رسول صلی الله علیه و آله له وفاته لږ وروسته به یمامه جنګ کې څلور سوه او د ځینې قولونو مطابق اووه سوه د قرآن حافظان شهیدان شول. همدارنګ د ام ورقه په نامه یوه ښځه چې د عبدالله بن حارث چې په خپله حافظ و لور وه د قرآن له حافظانو ګڼل کیده. د خدای رسول صلی الله علیه و آله به کله کله د هغې کتلو ته ورتله او هغه یې شهیده وناموله او هغې ته یې فرمایلي وو چې د خپل کور مشري په غاړه واخله.[1]

او د قرآن د ځینې سورتونو حفظ کول خو په مسلمانانو کې یوه عامه خبره وه او د قرآن ځینې ځینې برخې د ډیرو کسانو حفظ وې او د هغوی کم شمیر د تواتر حد ته رسیده او داسې ډیر کم کسان وو چې د قرآن یو برخه یې نه وه حفظ او د قرآن حفظ ته مسلمانانو دومره زیات اهمیت ورکولو چې کله کله به یوې ښځې خپل مهر د قرآن د څو سورتونو ورحفظ کول کیښودل.

۲. په دې کې هیڅ شک نشته چې د وحي لیکوالان به تل د پیغمبر(ص) په خوا کې وو او پیغمبر به چې کوم څه تلاوتول هغوی به لیکل او هغه حضرت صلی الله علیه و آله کاتبان په بیلا بیلو وختونو ویشلي وو او وختونه یې ورته ټاکلي وو.

۱. الاتقان: ټوک ۱، مخ ۲۵۰.

حامل په صحيح سند سره له زيند بن ثابته روايت کړی دی: مونږ پيغمبر سره وو او قرآن به مو په رقعو ليکه.[1]

تاريخ ليکوالانو د وحتی د ليکوالانو نامې ذکر کړی دی او ځينو د هغوي شمير تر دوه څلويښتو تنو بيان کړی او کله به هم چې وحی نازله شوې نو پيغمبر به حکم ورکړی چې بې ځنډه دې هغه وليکلی شي.

براء روايت کړی دی:

کله چې دا آيت نازل شو:

۱. المستدرك: ټوك ۲، مخ ٦١١.

﴿لاَّ يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ...﴾[1]

نو د خدای رسول وفرمایل: فورا زید راوغواړئ چې تختی او دوات سره راشي بیا یې وفرمایل: ولیکه: ﴿لاَّ يَسْتَوِي... ﴾[2]

پیغمبر به په خپله نیغ په نیغه په هغه څه چې به لیکل کیدل نظارت کاوه او همدا چې وحي نازله شوې هغه به لیکل کیده او صحیح کیده به.

له زید بن ثابت روایت شوی دی:

زه د خدای د رسول د لیکوالانو وم. کله چې به وحی نازلیده نو په هغه حضرت(ص) به سخت لړزان راغی... بیا به زه قلم او دوات سره د هغه حضرت(ص) څنګ ته ورتلم او هغه به وحی ماته ویله او ما به لیکله. له لیکلو وروسته به مې خپل لیکل لوستل که له قلمه مې کوم څه پاتې وې نو هغه به یې راته راياد کړل او ما به هغه صحیح کړل. بیا به مې هغه خلکو ته لوستل.[3]

خو کله کله به آیتونه جدا جدا نازلیدل، له ابن عباسه روایت شوی دی:

---

۱. نساء: (٤)، ٩٥.

۲. کنزالعمال: ټوک ۲، مخ ٤٣٤.

۳. مجمع الزوائد: ټوک ۱، مخ ۱۵۲.

کله چې به په رسول الله وحی نازلیده، نو هغه حضرت صلی الله علیه و آله به د وحی لیکوال راوغوښت او وبه يې فرمايل: دا آيات په فلانکي سورت کې په فلانکي ځای کې کيږدئ.[1]

او دا کار به ډېر احتياط سره کيده.

۳. د صحيفی په حديثونو کې راغلي دي:

جبرائيل امين به د هرې روژې په مياشت کې قرآن د خدای رسول ته راوړه. دا کار به په هر کال کې يوه ځل ترسره کيده او د هغه حضرت صلی الله عليه و آله د وفات په کال دوه ځله ترسره شو.[2]

او د خدای رسول چې کوم څه په سينه کې لرل د قرآن ډېرو حافظانو ته به يې ويل. او کومو کسانو چې ځانته کتابونو غوندې جوړ کړي وو هغه به يې هم د خدای رسول ته راوړل چې که په کې ځينې تيروتنې وي چې اصلاح شي.

۱. المستدرک: ټوک ۲، مخ ۲۲۲؛ الجامع الصحيح، ترمذی: ټوک ۵، مخ ۲۷۲، تاریخ یعقوبی: ټوک ۲، مخ ٤۳؛ البرهان، زرکشی: ټوک ۱، مخ ۳٤؛ مسند احمد: ټوک ۱، مخ ۵۷ و ٦۹؛ تفسیر قرطبی: ټوک ۱، مخ ٦۰.

۲. صحیح بخاری: ټوک ٦، مخ ۳۱۹؛ مجمع الزوائد: ټوک ۹، مخ ۲۳؛ کنز العمال: مخ ۱۲؛ زمونږ له خوا کوم حدیث نه دی راغلی مګر هغه څه چې شیخ مفید په ارشاد کتاب، ټوک ۱، مخ ۱۸۱ کې نقل کړي دي او له هغه په إعلام الوری، مناقب آل ابی طالب او کشف الغمه کې راغلي دي.

له ابن قتیبه نقل ششوي دي: اخري ځل د مصحف عرضه کول د زید بن ثابت وو.[۱]

او د عبدالبر په روایت کې له ابي ظبیانه راغلي دي: اخري ځل د مصحف عرضه کول د عبدالله بن مسعود وو.[۲]

٤. په بیلا بیلو روایتون کې راغلي دي چې اصحابو به د خدای د رسول په زمانه کې قرآن به یې له اوله تر آخره ختموه او هغه حضرت(ص) ورله په دې هکله احکام مقرر کړی وو او د قرآن ختم ته به تشویقول له هغه حضرته صلی الله علیه و آله روایت شوی دی:

«إنّ لصاحب القرآن عند کل ختم دعوةً مستجابَةً.»[۳]

د قرآن د لوستونکي لپاه د قرآن مجید د هر ختم نه بعد یوه قبلیدونکي دعا شته.

او له هغه حضرته صلی الله علیه و آله روایت دی:

«من قرأ القرآن في سبع فذلک عمل المقربین و من قرأه في خمس فذلک عمل الصدیقین.»[٤]

۱. المعارف: مخ ۲٦۰.
۲. الاستیعاب: ټوک ۳، مخ ۹۹۲.
۳. کنزالعمال: ټوک ۱، ح ۲۲۸۰.
٤. همان: ح ۲٤۱۷.

کوم کس چې قرآن په اوو ورځو کې تلاوت کړي نو دا د مقربینو له عمله دی او څوک چې هغه په پینځو ورځو کې تلاوت کړي نو دا د صدیقینو له عمله دی.

او ویې فرمایل:

«مَنْ شهد فاتحة الکتاب حین یستفتح کان کمن شهد فتحاً في سبیل اللهِ و مَنْ شهد خاتمته حین یختمه کان کمن شهد الغنائم.»[1]

هر څوک چې سوره فاتحه هغه وخت وګوري، کله چې قرآن خلاص کړي نو د هغه چا په شان دی چې د خدای په لار کښې د بریالی شاهد وي او هر څوک چې د قرآن خاتمه هغه وخت وګوري کله چې قرآن ختموي نو د هغه چا په شان دی لکه چې دله جنګ وروسته یې جنګي غنیمتونه لیدلي وي.

د دې حدیث معنی دا ده چې قرآن مجید د خدای د رسول صلی الله علیه و آله په وخت کښې د راغونډ شوې کتاب په شان پیژندې شو. له محمد بن کعب قرظي نه روایت دی:

له هغه کسانو چې د خدای د رسول په وخت کې به یې قرآن ختماوه دا کسان وو: عثمان، علی(ع) او عبدالله بن مسعود.[2]

مرحوم طبرسي لیکي:

---

۱. همان: ح ۲۴۳.

۲. الجامع لاحکام القرآن: ټوک ۱، مخ ۵۸.

ځین اصحابو لکه عبدالله بن مسعود، ابی بن کعب او نورو څو څو ځله د خدای د رسول صلی الله علیه و آله په وړاندې قرآن ختم کړ.[1]

او په روایت کې راغلي دي:

هغه حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ته حکم وکړ چې هرو اوو یا دریو شپو کې یو ځل قرآن ختمه وه او هغه به هره شپه کې یو ځل قرآن ختمه و.[2]

او سعد بن منذر ته یې حکم وکړ:

هره دریو شپو کې یو ځل قرآن ختمه وه او هغه به تر مرګ ساعته دا کار ترسره کاوه.[3]

۵. اصحابو به قرآن مجید په لوحونو او صحیفو کې راغونډوه او یوازې د قرآن په حفظ او تلاوت به یې بسنه نه کوله. د عمر بن خطاب د اسلام قبلولو په هکله داسې راغلي دي:

یو قریشي کس هغه ته وویل: ته لا دلته ناست یې او خور دې ستا له دینه وتلې ده؟! هغه د خپلې خور د کور په لور رویان شو او بې له اجازته کور ته ننوت او هغې ته یې په مخ یوه مزبوته څپېړه ورکړه. له دې وروسته

۱. مجمع البیان: ټوک ۱، مخ ۸٤.
۲. سنن دارمی: ټوک ۲، مخ ٤۷۱؛ سنن ابی داود: ټوک ۲، مخ ٥٤؛ الجامع الصحیح، ترمذی: ټوک ٥، مخ ۱۹٦؛ مسند احمد: ټوک ۲، مخ ۱٦۳.
۳. مجمع الزوائد: ټوک ۷، مخ ۱۷۱.

چې جنګ جګړه خلاصه شوه، د کاغذ يو مخ يې وليد چې د کور په يو ګوټ کې و او پر هغې ليکلي وو:

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ *
سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾[1]

بيا يې يو بل مخ وليدچې ورباندې ليکلي وو:

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ * طه، مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى . . .﴾[2]

هغه له دې وروسته چې دا له معجزې ډک کلام يې وليد نو مسلمان شو.[3]

همدا په دې خبره دلالت کوي چې مسلمانانو به د اسلام له لومړيو نه د پيغمبر(ص) په وينا قرآن ليکه او لاس په لاس به يې ترې نورې نسخې ليکلې

ځينې اصحابو د پيغمبر(ص) په وخت کښې قرآن راغونډ کړ چې د عبدالله بن عمر او انس بن مالك د روايت له مخې څلور کسان وواو د محمد بن کعب فرظي د روايت له مخې[4]، پينځه کسان وو او د شعبي د روايت

١. حديد: (٥٧)، ١.
٢. طه: (٢٠)، ١ ـ ٢.
٣. الموسوعة القرآنية: ټوک ١، مخ ٣٥٢، له السيرة النبوية په نقل، ابن هشام: ټوک ١، مخ ٣٦٧ ـ ٣٧٠، دا هغه يوازينې حديث دی چې له هجرته وړاندې په مکه کې د قرآن د ليکلو په هکله خبر ورکوي.
٤. مناهل العرفان: ټوک ١، مخ ٢٣٦؛ الجامع لاحكام القرآن: ټوک ١، مخ ٥٦؛ أُسدُ الغابة: ټوک ٤، مخ ٢١٦؛ الجامع الصحيح: ټوک ٥، مخ ٦٦٦.

لهمځې[1]، شپږ کسان وو. ابن حبیب هم په المحبّر کې[2] د هغوي شمېر شپږ کسان ښودلی دی او ابن ندیم په الفهرست کې[3]، د هغوي شمېر اوو کسانو ته رسولی دی.

دلته له راغونډولو نه مطلب، د قرآن حفظ نه دی، ځکه چې د خدای د رسول صلی الله علیه و آله په زمانه کې د هغوي شمېر ډېر زیات و او څلور یا اووه کسان نه وو، لکه څه رنګ چې په لومړي دلیل کې دې مطلب ته اشاره وشوه.

دلته هغه نامو ته اشاره کوو چې کومو د پیغمبر(ص) په وخت کې قرآن راغونډ کړی و چې په دې لړ کې کوم روایتونه راغلي دي د هغوي ټولو نه دا نامې راوځي: ۱ـ ابی بن کعب؛ ۲ـ ابوایوب انصاري؛ ۳ـ تمیم داري؛ ٤ـ ابو الدرداء؛ ٥ـ ابوزید ثابت بن زید بن نعمان؛ ٦ـ زید بن ثابت؛ ۷ـ سالم، آزاد کرده ي ابن حذیفه؛ ۸ـ سعید بن عبید بن نعمان، په الفهرست کې سعد راغلي؛ ۹ـ عباده بن صامت؛ ۱۰ـ عبدالله بن عمرو بن العاص؛ ۱۱ـ عبدالله بن مسعود؛ ۱۲ـ عبید بن معاویه بن زید؛ ۱۳ـ عثمان بن عفان؛ ١٤ـ علي بن ابي طالب؛ ۱٥ـ قیس بن السکن؛ ١٦ـ قیس بن ابي صعصعه بن زید انصاري؛ ۱۷ـ مجمع بن جاریه؛ ۱۸ـ معاذ بن جبل بن أوس؛ ۱۹ـ ام ورقه بنت عبدالله بن حارث.

---

۱. طبقات ابن سعد: ټوک ۲، هـ ۲، مخ ۱۱۳؛ فتح الباری: ټوک ۹، مخ ٤٨؛ مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲۳۷؛ حیاة الصحابة: ټوک ۳، مخ ۲۲۱.
۲. المحبر: مخ ۲۸٦.
۳. الفهرست: مخ ٤۱.

په دوي کې ځینو کسانو مشهور مصحفونه لرل لکه علی بن ابی طالب او عبدالله بن مسعود.

۷. د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې د دې لپاره د کتاب لفظ کارولی شوی دی. نو څرګنده ده چې د کتاب لفظ د هغه څه لپاره راوړل چې په ذهنونو او سینو کې دي، صحیح نه دی. بلکه باید لیکل شوی متن وي چې کتاب ورته وویل شي. لکه څه رنګ چې د ثقلین په مشهور کتاب کې له پیغمبره راغلي دي چې ویې فرمایل:

«إنّي تاركٌ فيكم الثقلين، كتاب الله و عترتي.» [۱]

زه تاسو ته دوه ګران بیه څیزونه پریږدم یو د خدای کتاب او بل زما اهلبیت.

همدا حدیث، په دې خبره ګواهي ورکوي چې قرآن د په لیکلې شوي شکل د یو کتاب په څیر پریښودی شوی دی.

۸. ځینې روایتونه په دې دلالت کوي چې د پیغمبر(ص) په وخت کې اصحابو سره ځینې مصحفونه موجود وو چې ځینې پوره او ځینې ناقص وو او اصحابو به هغه تلاوتول او لاس په لاس به یې کول او پیغمبر د دې مصحفونو لپاره سپارښتنې هم کړي دي.

۱. صحیح مسلم: ټوک ٤، مخ ۱۸۷۳؛ سنن ترمذی: ټوک ٥، مخ ٦٦٢؛ سنن دارمی: ټوک ۲، مخ ٤٣١؛ مسند احمد: ټوک ٤، مخ ٣٦٧ و ٣٧١، ح ٥؛ المستدرك: ټوک ٣، مخ ١٤٨.

له أوس ثقفي روایت دی چې د خدای رسول وفرمایل:

قراءة الرجل في غیر المصحف الف درجة و قراءته في المصحف تضاعف على ذلك ألفَي درجة. [1]

د مصحف نه پرته د قرآن تلاوت (د ثواب) زر درجې او په مصحف کې یې تلاوت دوه زره درجې ورزیاتیږي.

عایشه، د خدای له رسوله روایت کړی دی:

النظر في المصحف عبادة [2]

مصحف ته نظر کول عبادت دی.

ابن مسعود د خدای له رسوله روایت کړی دی:

أدیموا النظر في المصحف [3]

مصحف ته سترګې غړولو ته ادامه ورکړئ

ابوسعید خدري، د خدای له رسوله روایت کړی دی:

«أُعْطُوا أعینکم حظَّها من العبادة.» د سترګو د عبادت برخه ادا کړئ

پوښتنه یې وکړه: د سترګو د عبارت برخه کومه ده ای د خدای رسوله؟ نو ویې فرمایل:

---

۱. مجمع الزوائد: ټوک ۷، مخ ۱٦٥؛ البرهان، زرکشی: ټوک ۱، مخ ٥٤٥.
۲. البرهان، زرکشی: ټوک ۱، مخ ٥٤٦.
۳. مجمع الزوائد: ټوک ۷، مخ ۱۷۱.

«النظر في المصحف و التفكر فيه و الاعتبار عند عجائبه.»[1]

مصحف ته کتل او په کښې فکر کول او له عجائبو یې عبرت اخستل.

او وېي فرمایل:

«أفضل عبادةِ أُمتي تلاوة القرآن نظراً.»[2]

زما د امت له ټولو غوره عبادت قرآن ته کتل او د هغه تلاوت کول دي.

او وېي فرمایل:

«مَنْ قرأ القرآن نظراً مُتِّع ببصره مادام في الدنیا.»[3]

څوك چې قرآن داسې تلاوت کړي چې ورته ګوري، نو تر څو چې په دنیا کې دی، نو سترګو یې خپله برخه اخستې ده.

دا ټولو روایتونه په دې دلالت کوي چې د مصحف لفظ د کتاب کریم لپاره د خلفاو په وخت کې نه و، لکه چې ځینې روایتونه دې خبرې ته اشاره کوي، بلکې قرآن د خدای د رسول په وخت کې په مصحفونو کې راغونډ شوی او لیکلی شوی و.

له دې پرته باید دا ووایو چې د مصحف یوه نسخه به پیغمبر(ص) سره ساتلی شوه. د عثمان بن ابی العاص په حدیث کې راغلي دي:

---

۱. کنزالعمال: ټوك ۱، حدیث ۲۲٦۲.

۲. همان: حدیث ۲۲٦۵ و ۲۳۵۸ و ۲۳۵۹.

۳. همان: حدیث ۲٤۰۷.

کله چې له ثقیفه یوه ډله د خدای رسول صلی الله علیه و آله ته راغلې وه، نو زه هغه حضرت صلی الله علیه و آله ته ورغلم او له هغه مې وغوښتل چې خپل مصحف دې ماته راکړي او هغه حضرت صلی الله علیه و آله هغه مصحف ماته راکړ[1]. بلکې د خدای رسول به خپل د خوب ځای سره یو مصحف ایخې و چې د خرمان د ونې په پاڼو او پوستکي، کپړې او د اوښ په هډوکو لیکلی شوی و، او حضرت علی(ع) ته یې حکم وکړ چې هغه مرتب او منظم کړي. امام علی(ع) په دې هکله فرمایي:

آلیت بیمین أنْ لاأرتدي برداء إلاّ الی الصلاة حتی أجمَعُهُ [2]

قسم مې کړې چې بې له لمانځه نه به تر هغه وخته عبا په اوږو وانه چوم تر څو چې مې قرآن نه وي راغونډ کړی.

لکه څنګه چې اشاره وشوه په دې قرآن کې شان نزول او د آیتونو تاویل هم لیکلی و او د نازلیدو په ترتیب سره راغونډ شوی و.

کوم مطلبونه چې تیر شول هغه یو مزبوت دلیل دی چې ټول قرآن د خدای د رسول په وخت کې راغونډ شوی و او شورو او آخر یې معلوم وو او د پیغمبر(ص) په خپله د هغه په لیکلو څارنه کوله او حکم به یې ورکاوه چې د قرآن هره برخه په کومې ځای کې کیښودې شي. په داسې حال کې څه رنګامکان لري دا دعوا وشي چې د قرآن راغونډول د ابوبکر د خلافت تر وخته وځنډیدل او د یو آیت د ثابتولو لپاره د دوو کسانو

۱. مجمع الزوائد: ټوک ۹، مخ ۳۷۱؛ حیاة الصحابة: ټوک ۳، مخ ۲٤٤.
۲. کنزالعمال: ټوک ۲، حدیث ٤۷۹۲.

ګواهۍ ضرورت و چې ګواهي ورکړي چې دا آیت مو د خدای له رسوله اوریدلی دی؟!

## دریم څپرکی:
## په قرآن کې د تحریف د احتمالاتو څېړنه

په دې کې هیڅ شک نشته چې قرآن کریم ډېر زیات خپور شوې او مشهور شوی و او په یو مرتب او منظم شکل کې د عثمان له خلافت وروسته لیکلی شوی و. په دې وخت کې د قرآن کریم بیلا بیلې نسخې جوړې شوې او د نړۍ بیلا بیلو ځایونو ته ستولې شوې وې چې دا نسخې ملاک او معیار وګرځي او د دې مطابق قرائت او عمل وشي او ټینګار سره حکم شوی و چې هیڅوک له نورو نسخو ګټه ونه خلي او نورې نسخې د ځان لپاره تله ونه ګرځوي.

د دې مطلب د روښانه کیدو لپاره چې قرآن کریم د هر ډول لاس وهنې او تحریفه پاک دی، نو هغه حالات او وختونه څیړو چې په کې دا امکان وي چې قرآن تحریف شوی وي:

۱. امکان لري چې قرآن مجید د شیخینو په وخت کې خپل په خپل او بې له ارادې تحریف شوي وي او کوم څه ترې حذف شوی وي چې سبب یې د ځینې آیتونو نه غفلت وي یا ورته نه وي رسیدلي، لکه د قرآن د راغونډولو چې کومه کیسه صحیح بخاري نقل کړې له هغې دا امکان په لاس راځي.

۲. امکان لري چې د شیخینو په وخت کې عمدا په کې کوم تحریف شوی وي په دې فرض سره چې هغوي یو خاص پروګرام سره دا کار کړی وي.

۳. تحريف د عثمان په زمانه کې ترسره شوی وي.

٤. تحريف د بنی اميه په زمانه کې ترسره شوی وي لکه څه رنګ چې حجاج بن يوسف ثقفی ته د دې کار نسبت وکړی شوی دی.

يو پينځم احتمال هم شته چې تحريف دې احتمال سره په ذهن کې سم نه راځي او هغه دا چې ځينې عامو خلکو دا کار کړی وي. خو دا احتمال صحيح نه دی ځکه چې کله خلك يو دينی حکومت ولري چې هغه حکومت قرآن ښه پيژني او هغه حکومت سره مرسته کوي او ساتنه يې کوي او دا حکومت د خلکو لپاره د قرآن د آيتونو او ټکو د ټاکلو سرچينه وي نو خلك بيا دا توان نه لري چې به هغه قرآن کې بدلون او تحريف راولي.

لومړی حالت) د شيخينو په زمانه کې خپل په خپله د تحريف احتمال

په دې احتمال باندې دوه اعتراضونه دی:

الف) دا خبره ثابته شوې ده چې د قرآن کريم راغونډيدل د پيغمبر(ص) په وخت کې مکمل شوي وو. نو داسې حال کې د دې خبرې ځای نه پاتې کيږي چې شيخينو غفلت کړي وي نو د دې خبرې احتمال نه پاتې کيږي چې ځينې آيتونه د هغوي په لاس تحريف شوی وي.

ب) داسې ډير عوامل او سريزې وې چې قرآن مجيد په بشپړه توګه ډيرو مسلمانانو سره موجود وي. نو دا حالت د دې سبب شوی دی چې قرآن کريم بې له کوم عيب او نقصه شيخينو ته ورسيږي. دغه عواملو او سريزو ته په لنډه توګه داسې اشاره کولې شو:

۱. قرآن کریم ډیر ښکلې او ډیر بلیغې ادبې خبرې درلودې او عربو د هغې حفظ ته ډیره پاملرنه کوله، ځکه چې د هغوی د فکري او ټولنیز خاص کلتور جوړیدونکی همدا قرآن و. مونږ قرآن مجید ته د هغوي خاص پاملرنه لیدلې شو. هغوي به ادبی متنونه او شعرونه حفظ کول او له یادو به یې ویل. او تر دې چې د دې لپاره به یې خاص غونډې او مقابلې ترسره کولې. هغوي به ځینې ادبي متنونه په مقدسو او پاکو ځایونو کې ساتل او په دې طریقه به یې دې متنونو سره د خپلې مینې څرګندونه کوله، لکه څه رنګ چې معلقات سبع یا عشر یې په کعبې کې ځوړند کړي وو.

د عربو همدا رسم او دود د دې سبب شو چې ډیرو زیاتو خلکو په هغه وخت کې قرآن حفظ کړ او له یادو به یې ویل.

۲. قرآن کریم د مسلمانانو د یو اصلی کلتور او عقیدې او تفکر په توګه یادیده. له دې سببه یې دې آسماني کتاب ته خاص پاملرنه کوله. او همدا کار سبب شو چې پیغمبر په وخت لاس په کار شي او قرآن ولیکي او له تحریف او بدلون او له منځه تلو یې وژغوري. مسلمانانو به قرآن حفظ کاوه او له یاده به یې لوسته د دې لپاره چې د قرآن تفکر، کلتور او باورونو ښه وپیژني او په ژوند کې یې په کار راولي.

۳. دې ته په پام چې قرآن مجید یو ځانګړې فکری او کلتوري مقام درلود نو چا چې به هم د قرآن راغونډولو هڅه کوله هغوي به د خلکو تر مینځ یو ځانګړې مقام ترلاسه کاوه لکه څه رنګ چې په دې زمانه کې خلک د عالمانو او پوهانو خاص درنښت کوي.

دغه ټولنیز ځانګړې مقام ترلاسه کول د دې سبب کیدې شي چې دا یو خاص سبب او عامل وګرځي چې خلك قرآن مجید حفظ کړي او له یادو یې تلاوت کړي. تاریخ په دې خبره ګواهي ورکوي چې د قرآن حافظانو او قاریانو په اسلامي ټولنه کې یو خاص مقام درلود او همدا خبره سبب شوې وه چې ځینې کسانو د قرآن د حفاظت او لیکلو هڅه وکړي.

٤. پیغمبر چې د اسلامی امت مشر او لارښود و، تل به یې مسلمانان د قرآن حفظ او تلاوت ته هڅول او پوهیږو چې د خدای رسول د مسلمانانو په زړونو کې خاص مقام درلود او د مسلمانانو په فکرونو او کړچار باندې یې خاص اغیز درلود. او همدا خبره د دې سبب شوه چې مسلمانان بې له دې چې کوم شرعي ضرورت وي د هغه حضرت صلی الله علیه و آله د سپارښتنو په ځای کولو لپاره د قرآن مجید د حفظ کوشش وکړي.

٥. هغه زیات ثواب چې خدای پاك د قرآن د حافظانو او قاریانو لپاره ښودلی و د دې سبب کیده چې مسلمانان د قران کریم حفظ او تلاوت ته ګروهنه پیدا کړي په بیله توګه هغه کسان چې کوم تازه مسلمانان شوي وو او غوښتل یې چې اسلام د هغوي په ټولو کړچارو او افکارو کې څرګندونه وکړي.

له دې عواملو ځینو یا ټولو عواملو د مسلمانانو په ژوند کې دیر اغیز درلود. د اسلام تاریخ د قرآن د ډیرو حافظانو او قاریانو په هکله خبر ورکوي چې ثابتې او مزبوتې عقیدې یې لرلې او د مسلمانانو په ټولنیز ژوند کې یې خاص محوري رول لرلو. او په سیاسي اختلافاتو کې چې مسلمانان به ورسره مخامخیدل دغه کسان د تلې پر توګه ګڼل کیدل چې د دوو کسانو تر مینځ پریکړه وکړي.

٦. له دې پرته دا طبیعي خبره ده چې هر هغه مسلمان چې د قرآن د لیکولو توان یې لرلو، نو هغه د قرآن په لیکلو کې کوشش کړی دی، ځکه چې هر یوه ټولنه یا امت چې یو څیز ته پاملرنه لري او هغه څیز د خپل کلتوري ژوند لپاره تعبیر ګڼي، نو هڅه کوي چې هغه څیز په هرې وسیلې سره حفظ کړي او په دې کې هیڅ شک نشته چې د حفاظت له لارو یوه غوره لاره د قرآن لیکل وو.

له همدې سببه ګورو چې په ځینو حدیثونو کې راغلي دي چې ډېرو زیاتو اصحابو سره د قرآن مصحفونه یا سورتونه موجود وو.

نو دې عواملو او سریزو ته په پام، قرآن مجید د اصحابو په لاس کې و او دا خبره عقل سره سمه نه ده چې د هغوي د غفلت یا غلطي او بې پامي د دې سبب شي چې د قرآن په ځینې آیتونو کې تحریف او بدلون وشی.

دویم حالت) د شیخینو په زمانه کې عمدا د تحریف احتمال

دا احتمال بالکل صحیح نه دی، ځکه چې عمدي تحریف له دې دوو علتونو او سببونو څخه یو کیدی شي:

لومړی (د شخصي ګروهنې په سبب)

دویم (د سیاسي غرضونو په سبب) لکه چې په قرآن کې داسې خاص آیتونه موجود وې چې یو خاص موضوع او مفهوم ته یې اشاره کړې وې او دغه خاص موضوع د شیخینو سیاسي غرضونو سره ټکره لرلې، لکه د حضرت علی علیه السلام په خلافت باندې څرګند دلیل وې یا په دې دواړو باندې کومه نیوکه وې.

د لومړي سبب په هکله، باید لاندینو خبرو ته پام وکړو:

۱. د شیخینو دا کار په دې معنا و چې هغوي د حکومت هغه قانون تر پښو لاندې کړې وې چې په هغه وخت کې ټاکلی شوی و. حکومت په هغه وخت کې د خدای د رسول صلی الله علیه و آله د ځای ناستي او د اسلامی امت د مشری پر اساس جوړ شوی وو. او دا خبره عقل سره سمون نه لري چې هغوي په قرآن کې تحریف وکړي او اسلام سره دښمني وکړي بې له دې چې کومه دیني یا دنیاوي ګټه ورته په لاس ورشي. آیا د هغوي داسې کار بې له دې بل څه چې په هغه وخت کې یې ځانته ټکرې زیاتې کړې وې؟! آیا دا خبره د دې سبب نه کیده چې د هغوي په خلاف خلکو همدې دلیل سره چې قرآن یې بدل کړې پاڅون کړې وې او مرکزي حکومت یې له منځه وړې وې؟

۲. اسلامی امت په هغه وخت کې یو سیاسی او ټولنیز مزبوت حکومت و او هر ډول مخالفت یې منعه کولی شو. دغه مزبوتیا د دې سبب کیده چې د اسلام په خلاف به آسانۍ سره قدم اوچتول ممکن نه وي او مسلمانانو به یې سخت مخالفت کاوه. مسلمانانو به قرآن ته د یو ډیر پاک کتاب په سترګه کتل او هغه به یې د خدای کلام ګڼه چې په کې حتی د خدای

رسول هم کوم بدلون نه شي راوستی لکه څه رنګ چې قرآن په خپله په دې خبره تاکید کوي.[1]

مسلمانانو د قرآن د آیتونو او حکمونو په رڼا کې د خدای په لاره کې جهاد وکړ او تقریبا درې ویشت کاله یې قرآن سره ژوند وکړاو خپل ځانونه یې د قرآن لپاره قربان کړل او د هغوي په نظر کې په قرآن کې لاسوهنه له دینه وتلو او مرتد شونې سره سم و.

۳. حکومت د شیخینو به وخت کې هم له هغه اعتراضاتو په امان کې نه وې کوم چې به کله کله د خلیفه له خوا د ځینې احکامو په تطبیق او اجرا کې مخې ته راتلو. سره د دې مونږ په تاریخ کې نه ګورو د قرآن په تحریف یا بدلونې کوم اعتراض شوی وي.

که د شیخینو په وخت کې د قرآن د تحریف یا بدلونې لپاره کوم کار شوی وی نو دا څنګه کیدې شي چې مسلمانانو د شیخینو په وخت کې یا له هغوي وروسته هیڅ اعتراض نه وي کړی؟

دې خبرو ته په پام د دویم سبب په وړاندې زمونږ باور روښانیږی:

اول) له دې سببه چې مسلمانانو قرآن یو داسې پاک کتاب ګڼه چې د خدای له خوا نازل شوی دی، نو له همدې سببه یې په دې کتاب کې یو بدلون هم جایز نه ګڼه.

۱. { . . . قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِن تِلْقَاء نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ . . . . } ; ووایه ماته دا اجازت نشته چې له ځان دا بدل کړم مګر د هغه څه (پیروي کوم) چې ماته یې وحی کیږي. یونس: ۱۰، ۱۵.

دوم) د دې کار ترسره کیدل بې له جنګ جګړې ممکن نه وو او مونږ په تاریخ کې خلیفه سره په دې هکله کوم جنګ نه دی لیدلی.

سوم) په تاریخ کې ډیر داسې حدیثونه شته چې په ابوبکر او عمر یې د ځینې کارونو له سببه نیوکې کړي دي، لکه هغه سیاسی خبرې چې حضرت بی‌بی زهرا سلام الله علیها د هغوی په خلاف وکړې او له هغه بی‌بی وروسته امیر المومنین علی علیه السلام او هغو کسانو چې د هغه په امامت یې ایمان درلود، ورته ادامه ورکړه او په دې وخت کې یو کس هم له داسې آیت یا بل نصه ګټه نه ده اخستې چې اوس په دې قرآن کې نه وي موجود که چرې داسې آیتونه موجود وې چې اوس په دې قرآن کې نه دي موجود نو طبیعي خبره ده چې هغه به یې د خپل مطلب د ثابتولو لپاره راوړې وې او خپل حق به یې ورسره ثابت کړې و، خو داسې کار نه دی شوی.

دریم حالت) د عثمان په وخت کې تحریف

دا احتمال ډیر هم کمزورې او ضعیف دی ځکه چې:

الف) اسلام ـ او په ځنګ کې یې قرآن کریم ـ په پراخه توګه د خلکو تر مینځ خپور شوی و او ډیر وخت تیر شوی و چې خلکو قرآن سره ژوند کاوه. نو په داسې حال کې د عثمان هیڅ وس نه رسیده چې له قرآنه څه کم کړي تر دې چې کوم کس له عثمانه زیات زور درلود هغه هم ترې کوم څه نه شو کمولې نو عثمان باندې خو هسې نه هم اعتراضونه و او دومره زور یې هم نه و او مړ یې کړ.

ب) دغه حذف آیتونه یا د عثمان په خلاف نه وو یا یې په خلاف وو که د عثمان په خلاف نه وو نو عثمان یې حذفولو ته کومه اړتیا نه لرله او که د هغه په خلاف وو نو بیا خو هغه خلافت ته نه شو رسیدې په داسې حال کې چې خلیفه و.

ج) که چرې عثمان په قرآن کې تحریف کړې وې نو د هغه مخالفانو به ځانته همدا بهانه راوړې وه چې مړ یې کړي خو مخالفانو یې هیڅ کله داسې نه دي کړی.

د) که عثمان دا کار کړی وی، نو امام علی علیه السلام به د هغه په وړاندې خپل دریغ څرګند کړی و او فرمایلي به یې وو چې دا آیتونه دې خپل ځای ته بیرته راشي. په داسې حال کې چې مونږ ګورو حضرت علی علیه السلام ټینګار کوی چې کوم مالونه عثمان په ناحقه خپلو خپلوانو ته ورکړي دي هغه به بیت المال ته ستانه کړي فرمایی:

و الله لو وجدتُهُ قد تزوّج به النساء و ملك به الاماء لرددته، فإنَّ في العدلِ سعةً و من ضاق علیه العدل فالجورُ علیه أضیق.

قسم په خدای که ناحق مالونه ووینم چې ښځې ورسره نکاح شوي دي (مهر ګرځیدلی دی) یا ورسره کنیزانې اخستې شوي دي نو هغه مالونه به بیت المال ته ستانه کړم بیشکه چې په عدل کې پراختیا ده او کوم چاته چې عدل قبلول سخت وي نو پوه دې شي چې ظلم قبلول به ورته زیات سخت وي.

همدارنګ ګورو چې هغه حضرت علیه السلام د عثمان د بې لارې والیانو په خلاف سخت دریځ نیسي او په داسې حال کې مونږ دې یقین ته رسو چې د داسې یو مهم کار یعنې تحریف په وړاندې د هغه حضرت چپتیا د دې خبرې دلیل دی چې په قرآن مجید کې تحریف نه دی ترسره شوی.

څلورم حالت) د بنی امیه په وخت کې تحریفیدل

له دې ټولو تیرو بحثونو نه چې مو تفصیل سره وکړل په دې څلورم حال کې هم زمونږ دریځ څرګند دی. معلومه خبره ده چې حجاج بن یو ثقفی یا نورو والیانو لپاره دا امکان نه و چې قرآن مجید تحریف کړي، په داسې حال کې چې اسلام او قرآن د عالم په ختیځ او لودیځ کې خپور شوی و.

له دې پرته هغوی د قرآن د بدلونې لپاره کوم دلیل او سبب نه درلود چې داسې خطرناک کار ته لاس واچوي چې د هغوي د حکومت ستنې وخوزوي.[١]

په دې طریقه مونږ دې پایلې ته رسو چې د قرآن مجید په یوه زمانه کې هم نه دی تحریف شوی د خلفاو له وخته تر اوسه، او د تحریف نه شونې لپاره هڅه کول ضرورت نه لري، ځکه چې د مسلمانانو په تاریخی او ټولنیز حقیقت کې تحریف کولو امکان نه درلود. او هغه روایتونه چې ځینې کسانو ورسره دلیل راوړی دی چې په قرآن کې

١. علوم القرآن: مخ ٩٩ ـ ١١٤، شهید سید محمد باقر حکیم، چ سوم.

تحریف شوی دی هغه دومره علمی توان نه لري چې کوم څه ورسره ثابت شي له همدې سببه د اسلام عالمانو له دغو روایتونو اعراض کړی دی او دا څرګندونه یې کړې ده چې په قرآن کې تحریف نه دی شوی نه په زیاتي سره او نه په کمی سره.

## څلورم څپرکی:
## د قرآن له تحریفه د سلامتی په هکله د اسلامی عالمانو څرګندونې

اسلامی عالمانو په عامه توګه او د شیعه و عالمانو په خاص توګه په تیرو پیړو کې په څرګنده اعلان کړی دی چې قرآن مجید له هر ډول تحریفه پاك دی. هغه کسان چې په شیعو دا تور لږوي چې د قرآن مجید د تحریف قایل دي هغوي د شیعو عالمانو څرګندو نظرونو ته نه ګوري او هغه کم قولونه چې د تحریف به هکله دي هغې سره دلیل راوړي.

به دې برخه کې د شیعه و عالمان و هغه څرګندونو ته پام لرنه کوو چې له تیرو پیړیو تر اوسه یې د قرآن د تحریف نه شونې په هکله کړي دي.

۱. شیخ المحدثین، ابوجعفر محمد بن علي بن حسین صدوق، وفات کال ۳۸۱ هـ په هغه رسالې کې چې په کې د شیعو عقاید بیانوي لیکي: زمونږ عقیده دا ده چې د خداي له خوا په پیغمبر(ص) باندې نازل شو، هماغه قرآن دي چې کوم اوس لیکل شوی خلکو سره لاس کې موجود دی او له دې زیات نه و او د هغې سورتونه د مشهور قول مطابق ۱۱٤دی.

بیا یې فرمایلی: کوم کسان چې په مونږ دا تور لږوي چې مونږ دا وایو چې قرآن له دې زیات و هغه دروغجن دی.[1]

---

۱. کتاب اعتقادات الامامیه، شرح الباب الحادی عشر سره چاپ شوی: مخ ۹۳ ـ ۹٤.

۲. شيخ مفيد، وفات کال ٤١٣ هـ ليکي:

د شيعو يوه ډله په دې باور دي چې له قرآنه يو ټکې هم نه دی کم شو، او د معنو کوم تاويل او تفسير چې د اميرالمومنين عليه السلام په مصحف کې و هغه حذف شوی دی. دغه تاويل او تفسير که څه هم د حقيقی نازليدو بيانوونکی دی خو د خدای کلام نه دی چې د پيغمبر(ص) معجزه وي. او زما به نظر کې همدا خبره له هغه خبرې زياته صحيح ده چې وايي ځينې ټکي له قرآنه حذف شوي دي او ما همدا خبره منلې ده چې قرآن کې کوم کمې نشته او له خدايه توفيق غواړم چې مونږ ته د نيغې لارې هدايت وکړي.[۱]

۳. سيد مرتضي، لقب يې علم الهدی، وفات کال ٤٣٦ هـ ليکي:

د قرآن د نقل په صحيح شونې باندې علم پيدا کول همداسې دي لکه چې په لويو پيښو او د عربو په مشهورو کتابونو او ليکلي شوي شعرونو باندې علم پيدا کړې. بيشکه چې د قرآن د حفاظت او نقلولو لپاره خاص پاملرنه موجوده وه او همدا خاص پاملرنه زمونږ له تصوره زياته وه؛ ځکه چې قرآن د د نبوت معجزه او د شرعی علمونو او دينی حکمونو سرچينه وه او د اسلام عالمانو خپل ټول کوششونه او هڅې کړي وې چې دا په صحيح توګه وساتي تر دې چې د هغې په اعرابو او قرائت او ټکو کې يې ځيرتيا کړې ده او هغه يې پيژندل. نو په داسې حال کې څنګه ممکنه ده په دې کې بدلون يا کمې وشي.

۱. اوائل المقالات فی المذاهب المختارات: مخ ٥٥ ـ ٥٦.

هغه لیکلي: د قرآن په سپارو باندې علم پیدا کول داسې ده لکه چې په ټول قرآن علم پیدا کړي دا کتاب د لیکلې شوې کتابونو غوندې دی کله د سیبویه او مزنی کتابونه.

که د سیبویه یا مزنی په کتاب کې یو باب ورزیات کړی شي نو زر وربانديې پوهیږو، نو دلته خو څرګنده ده چې دې کتاب ته د شعرونو او د عالمانو له کتابونو زیاته پاملرنه شوې ده.

هغه دا ټینګار کوي چې قرآن مجید د خدای د رسول په زمانه کې په همدې شکل کې راغونډ شوی و په کوم شکل کې چې نن موجود دی او د خپلې دې خبرې لپاره داسې دلیل راوړي:

ټول قرآن به د پیغمبر(ص) په وخت کې لیکل کیده او حفظ کیده به او تر دې چې هغه حضرت(ص) ځینې اصحاب معین کړي وو چې قرآن مجید حفظ کړي او قرآن به د خدای د رسول صلی الله علیه و آله په وړاندې تلاوتیده او ځینې کسان لکه عبدالله بن مسعود و ابي بن کعب، څو څو ځله د پیغمبر په وړاندې دا کتاب ختماوه او او کومې غلطې چې به پکې؟ې وې هغه به ې ورته صحیح کولې . نو دا خبرې مونږ ته دا ښايي چې قرآن د خدای رسول صلی الله علیه و آله په زمانه کښې راغونډ شوی او لیکلی شوی دی.

هغه بیا دا یادونوه کوي چې د شیعو یوه ډله او حشویه چې د شیعو مشهور قول سره مخالفت کوي نو د هغوی خبرو ته پاملرنه نه کیږی. ځکه چې هغوي او اهل حدیث ضعیفو روایتونو سره دلیل راوړی دی او دا ګمان یې کړی چې دا روایتونه صحیح دي او دلیل ورسره راوړې شي، په داسې

حال کې دا ضعيف روايتونه چې هم د سند له مخې او هم د دلالت له مخې ظنی وي، نو ورسره له داسې کتاب لاس نه شو اخستې چې هغه قطعی السند (د سند له مخې يقيني روايت) وي.[1]

د سيد مرتضی دريځ دومره مشهور و چې د اهل سنتو ځينې عالمانو هم ورسره دليل راوړی دی او ويلي يې دي: هغه به هغه کس کافر ګڼه چې څوک د قرآن د تحريف قايل وي. ابن حجر عسقلانی له ابن حزمه نقل کړي: سيد مرتضی د معتزله و له لويانو ګڼل کيده او شيعو و، خو هغه به هغه کس کافر ګڼه چې په قرآن کې د تحريف قايل وي. همدارنګ ابوقاسم رازي او ابويعلي طوسي چې د دوي له دوستانو وو هم دا عقيده لرله.[2]

٤. شيخ طوسي، لقب يې شيخ الطائفه، وفات کال ٤٦٠ هـ د خپل تفسير په سريزې کې ليکي:

د دې تفسير کتاب غرض، د قرآن د معنو او فنونو او غرضونو بيانول دي خو د دې کتاب په هکله د زياتي او کمي خبره يوه داسې خبره ده چې دې سره نه ښايي، ځکه چې اجماع په دې شوې ده چې په قرآن کې کوم څه زيات نه دي شوی او د کميدو په هکله يې هم بايد ووايو چې د مسلمانانو د مذهب له ظاهره دا راوځي چې دا خبره نه مني چې په قرآن

١. اين مطلب در مجمع البيان: ټوک ١، مخ ١٥ له المسائل الطرابلسيات په نقل، له سيد مرتضی راغلي دي.
٢. لسان الميزان: ټوک ٤، مخ ٢٢٣.

کې کمې شوی وي او صحیح قول چې زما نظر هم دی هغه دا دی چې په قرآن کې کوم کمې نه دی شوی. او سید مرتضی همدا قول ثابت کوی او په دې خبره ټینګار کوي او د روایتونو ظاهر همدا خبره رسوی.

خو د شیعو او سنیانو له خوا ډیر داسې روایتونه راغلي دي چې له قرآن ډیر آیتونه کم شوي او یا ځای په ځای شوي دي، خو دغه حدیثونه له دې سببه چې خبر واحد دي نو د علم او عمل سبب نه کیږي او ښه دا ده چې له دغو مخ واړوو او فکر ورباندې بوخت نه کړو، ځکه چې د دغو حدیثونو تاویل ممکن دی. او که دا ووایو چې دا روایتونه صحیح ده نو بیا هم دغه قرآن ته کوم ضرر نه ورکوي کوم چې اوس زمونږ په لاسو کې دی ځکه چې د دې قرآن ربښتیا والې او صحیح والې قطعي دی او هیڅوک په دې باندې اعتراض نه لري او د دې سموالې نه ردوي.[1]

۵. مرحوم طبرسي، لقب یې امین الاسلام، وفات کال ۵٤۸ هـ لیکي:

د قرآن په هکله د کمی او زیاتي بحث د تفسیر بحث نه دی خو د زیاتي په هکله باید ووایو چې د دې په خلاف اجماع لرو او د کمی په هکله باید ووایو چې زمونږ ځینې اصحابو او له سنیانو ځینې حشویه دا دعوا کوي چې په قرآن کې کمې یا بدلون راغلی دی.

۱. التبیان فی تفسیر القرآن: ټوک ۱، مخ ۳.

خو زمونږ د مذهب صحیح قول د دې خبرې په خلاف دی او سیدمرتضي ـ قدس الله روحه ـ د جواب المسائل الطرابلسیات کتاب کې په بشپړه توګه دې دعوې ته ځواب ورکړی او دا شبهه یې رد کړې ده.[1]

٦. سید ابوالقاسم علي بن طاووس حلّي، وفات کال ٦٦٤ هـ ځرګندونه کړې ده چې قرآن له هر ډول کمی او زیاتي نه پاک دی، لکه څه رنګ چې عقل او شرع هم همدا وایي.[2]

هغه د هغو حدیثونو، چې سنیان یې له عثمان او عایشې بي‌بي نقلوي چې په قرآن کې خطا راغلې ده، انکار کوي او فرمایي:

آیا له دې خبرې نه حیرانیږي چې په هغه قوم کې یو داسې کس لکه علی بن ابی طالب موجود و چې له پیغمبره وروسته په قرآن او سنت کښې د عربو له ټولو فصیح کس و، د هغه خبره پریږدي او له عایشه بي‌بي پوښتنه کوي؟ آیا پوه کسان په دې نه پوهیږي چې دا کار یوازې د حسد پر بنسټ یا د مخ اړونې پر بنسټ دی؟ که یهودیان او زندیقان یو داسې مسلمان وګوري چې په قرآن کې د تحریف قایل وي، نو هغه به د مسلمانانو په خلاف د یو دلیل په توګه ونیسي.[3]

٧. علامه حلّي، وفات کال ٧٢٦ هـ د هغه پوښتنو په ځواب کې چې له هغه شوې وې لیکي:

---

١. مجمع البیان: ټوک ١، مخ ١٥.
٢. سعدالسعود: مخ ١٩٢.
٣. سعدالسعود: مخ ٢٦٦.

له مونږ پوښتنه شوې چې آیا دا خبره صحیح ده چې زمونږ اصحاب دا نظر لري چې له قرآن کوم څه کم شوي یا زیات شوي دي یا یې ترتیب خراب شوی دی؟ یا په دې کې یوه خبره هم صحیح نه ده؟

حقیقت دا دی چې په دې کتاب کې هیڅ مخکې وروسته نه دي شوې او نه وربانديې کوم څه ورزیات شوي دي او نه ترې کوم څه کم شوي دي او خدای ته پناه وړم له هغه چا چې څوک دا باور ولري، ځکه چې د دا رنګ عقیدې مطلب دا دی چې د خدای د رسول صلی الله علیه و آله هغه معجزه چې تواتر سره نقل شوی، په هغې کې شک وکړي.[1]

۸. شیخ زین الدین بیاضي عاملي، وفات کال ۸۷۷ هـ لیکي.

په ټول قرآن او د هغې په ټولو برخو باندې تواتر دی او د دې کتاب د حفاظت لپاره ډیر کلک فکرونه شوي دي او تر دې چې د سورتونو په نامو او په تفسیرونو کې به یې جنګونه کول، او ډیر زیات کسان د قرآن د حفظ په ځای د قرآن په معنو او احکامو کې په تدبر او فکر لګیاو او که له دې کوم څه کوم شوې یا زیات شوې وې نو هر عاقل به په دې خبرې پوهیده که څه هم د قرآن حافظ نه وې، ځکه چې د قرآن په فصاحت او روانۍ کې به ورسره اختلاف پیدا کیده.[2]

۹. شیخ علي بن عبدالعالي کرکي عاملي، لقب یې محقق ثاني، وفات کال ۹٤۰ هـ یوه کتابچه په دې باندې لیکلې ده چې له قرآنه کوم څه نه دي

---

۱. أجوبة المسائل المهناویة: مخ ۱۲۱.

۲. الصراط المستقیم: ټوک ۱، مخ ٤٥.

کوم شوی. او د هغو روایتونه په هکله، چې د قرآن نه د کمي په هکله راغلي دي، فرمايي:

کو یو حدیث د متواتر سنت او اجماع په خلاف وي او د هغه حدیث تاویل یا په بلې معنې اخستل هم ممکن نه وي نو واجبه ده چې یو طرف ته پریښودی شي.[1]

۱۰. شیخ فتح الله کاشاني، وفات کال ۹۸۸ هـ په خپل تفسیر منهج الصادقین، کې د د دې آیت په تفسیر کې:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾

څرګندونه کړې ده چې په قرآن کې کې هیڅ کمې نه دی راغلی.

۱۱. سید نورالله شوشتري، چې په قاضي شهید مشهور و او په ۱۰۱۹ هـجری کال کې په شهادت ورسید په خپل کتاب مصائب النواصب في الامامة و الکلام کې د قرآن په کم نه شونې داسې څرګندونه کوي:

کوم څه چې شیعو ته یې نسبت ورکړې شوی دی، چې هغوي په قرآن مجید کې د تحریف قایل دی، نو دا خبره داسې نه ده چې ټول شیعه همدا

۱. مباحث فی علوم القرآن، خطی: شرح الوافیه فی علم الاصول د دې ډېر عبارتونه نقل کړي دي.

وایي، بلکې له شیعو ډېر کم کسان چې د پام وړ نه دي هغوي دا دعوا لري.[1]

۱۲. شیخ محمد بن حسین، چې په شیخ بهایي مشهور و، وفات کال یې ۱۰۳۰ هـ دی فرمایی:

فرمایي: صحیح قول دا دی چې په قرآن کې هیڅ تحریف نه دی شوی. او د خدای پاک قول هم په دې خبره دلالت کوي چې فرمایی:

﴿وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾

او هغه خبره چې د خلکو تر مینځ مشهوره شوې ده چې د امیرالمومنین نامه د قرآن په څو ځایه کې وه او کمه کړې شوې ده، لکه هغه ځای کې چې فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾

في علي، نو د عالمانو په نظر کې دا خبره د قبلیدو وړ نه ده.[2]

۱۳. شیخ محمدمحسن چې په فیض کاشاني مشهور دی، وفات کال ۱۰۱۹ هـ لیکي:

که د قرآن تحریف او د الفاظو بدلون ومنو، نو بیا خو مونږ ته هیڅ نه پاتې کیږي چې باور ورباندې وکړو، ځکه چې په داسې حال کې به په هر یو

۱. آلاء الرحمن، بلاغی: ټوک ۱، مخ ۲۵؛ قول الامامیه بعدم النقیصه فی القرآن، له مصائب النواصب په نقل؛ الشیعه فی المیزان: مخ ۳۱٤.

۲. آلاء الرحمن: مخ ۲٦.

آیت زمونږ شک راځي چې بدلون په کې شوې وي او بې له هغه څه به بل څه وي چې کوم خدای نازل کړي دي. او نتیجه به یې دا شي چې بیا به قرآن هیڅ حجیت نه لري او د قرآن امرونه او نهی او سپارښتنې به عبث شي او د ټکر لرونکو حدیثونو په قرآن باندې تلل به هم بې فایدې شي. هغه له دې وروسته د شیخ صدوق په خبرو او ځینې حدیثونو سره دلیل راوړي.[۱]

هغه د دې آیت په تفسیر کې ﴿وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ ویلي دي: د دې مطلب دا دی چې دا قرآن مونږ له کمې او زیاتي ساتو.[۲]

۱٤. شیخ محمد بن حسن حر عاملي، وفات کال ۱۱۰٤ لیکي:

که څوک د روایتونو او تاریخ څېړنه وکړي، نو یقین ورته پیدا کیږي چې قرآن د اعتبار په لوړې درجې کې دی او په زرګونو اصحابو به هغه حفظ او تلاوت کاوه او د خدای د رسول صلی الله علیه و آله به زمانه کې راغونډ کړې شوې او لیکلې شوې و.[۳]

۱۵. علامه محمدباقر مجلسي، وفات کال ۱۱۱۱ هـ لیکي:

د امام علیه السلام په صحیفې کې راغلي دي چې د همدې قرآن د تلاوت حکم یې کړی دی چې کوم زمونږ په لاسو کې دی چې له دې تیرې ونه کړو او په دې کې هیڅ کمې او زیاتې ونه کړو... او مونږ یې د هغو خبرو

۱. الوافی: ټوک ۱، مخ ۲۷۳ ـ ۲۷٤.
۲. الصافی فی تفسیر القرآن: ټوک ۳، مخ ۳٤۸.
۳. دا رساله په الفصول المهمه کتاب کې، سید شرف الدین: مخ ۱٦۸ راغلې ده.

له تلاوته منعې کړي یو چې ځینې روایتونو کې راغلي دي چې په قرآن یې ورزیات کړي دي او فرمایلي یې دي چې همدا ثابت قرآن چې کوم متواتر دی همدا تلاوت کړو او له خبر واحد ډډه وکړو ځکه چې په خبر واحد کې غلطي کیدې شي.[1]

۱٦. سید محمد طباطبایي، چې لقب یې بحرالعلوم و او وفات کال ۱۲۱۲ هـ لیکلي: د خدای پاک کتاب ماغه قرآن کریم، فرقان عظیم، رڼا او نور او هغه معجزه چې په ټولو وختونو کې د تل لپاره پاتې ده او هغه حق کتاب دی چې هیڅ باطل یې وړاندې وروسته نشته او د حکیم خدای له خوا نازل شوی دی. خدای پاک هغه په روښانه عربی ژبه د پرهیزګارانو او د عالمینو د هدایت لپاره نازل کړ... له دې وروسته بیا دوه روایتونه نقلوي وایي: القرآن اربعة ارباع و ثلاث اثلاث؛ دا موجود قرآن د اصلی قرآن څلورمه برخه یا دریمه برخه دی. بیا د دې خبرې بیان داسې کوي:

د دې توجیه دا دی چې دا اثلاث او ارباع (دریمه او څلورمه برخه) په مطلق اقسام او انواع په معنې اخستې شو که څه هم په اندازه کې یې فرق وي.[2]

۱۷. شیخ جعفر کاشف الغطاء، وفات کال ۱۲۲۸ هـ لیکي:

په دې کې هیڅ شک نشته چې قرآن مجید د خدای په ارادې سره له تحریفه بچ پاتې شوی دی، لکه څنګه چې د قرآن مجید څرګند آیتونه په

---

۱. بحارالانوار: ټوک ۹۲، مخ ۷٤.

۲. الفوائد فی علم الاصول، خطی: د حجیة ظواهر الکتاب بحثونه.

دې دلالت کوي او ټول عالمان په ټولو زمانو کې په دې اجماع لري او هغه کم قولونه چې راغلي دي د پام وړ نه ګڼي، هغه قولونه چې د قرآن د کمی په هکله راغلي دي په بيله توګه هغه روايتونه چې د قرآن دريمه برخه يا له دې زياته کمه ګڼې، د هغوي باطل شونه ځرګنده ده، ځکه که داسې وې، نو دا روايتونه به په متواتره مونږ ته راغلي وو، ځکه چې د دې تحريف لپاره ډير غير مسلمه کسان لګيا وو او په اسلام باندې د نيوکې په غرض يې داسې روايتونه راغونډول. او څنګه ممکنه ده چې تحريف په کې شوې وي په داسې حال کې چې د قرآن د ټکو، حرکتونو او آيتونو په سخته ساتنه کيده؟ نو دې ته په پام دا روايتونه توجيه کړو او بله معنا ورته ولټوو.[1]

۱۸. سيد محسن أعرجي کاظمي، وفات کال ۱۲۲۸ هـ ليکي:

سنيان د حضرت على عليه السلام مصحف نه مني، ځکه چې په هغه کې د آيتونو تفسير او تاويل و؛ ځکه چې د خلکو عادت دا و چې د آيتونو تفسير او تاويل به يې د آيتونو په څنګ کې ليکه. کومه خبره چې په دې دلالت کوي، هغه د حضرت على عليه السلام هغه ځواب دی چې دويم خليفه ته يې ورکړی دی:

و لَقَد جئت بالكتاب كملاً مشتملاً على التأويل و التنزيل و المحكم و المتشابه و الناسخ و المنسوخ.

۱. کشف الغطاء فی الفقه، کتاب القرآن: مخ ۲۹۹.

ما کتاب په بشپړه توګه راوړی دی چې په کې تاویل، تنزیل، محکم، متشابه، ناسخ او منسوخ دي. دا روایت په دې دلالت کوي چې کوم کتاب حضرت علی علیه السلام هغوي ته وروړاندې کړی وی هغه په هغه کې د نازل شوي قرآن نه علاوه دغه څیزونه هم وو.[۱]

۱۹. سید محمد طباطبایي، وفات کال ۱۲٤۲ هـ لیکلي:

په دې کې هیڅ شک نشته چې ټول قرآن او د ټولې برخې یې باید متواترې وي. او د قرآن د ترتیب او ځای په هکله د اهل سنتو محققان وایي چې په دې هکله هم تواتر دی، ځکه چې دا تل پاتې معجزه چې د اسلام دین اصل او بنسټ دی، باید د دې برخې او تفصیلات د نقل لپاره ډیرې وسیلې ولري او کوم خبرونه چې احادو نقل کړي نو په دې یقین دی چې دغه روایتونه قرآن دنه دی.[۲]

۲۰. حضرت امام خمیني(رح) وفات کال ۱٤۰۹ هـ لیکلي:

که څوک له دې خبر وي چې مسلمانانو به د قرآن ساتنې او حفظ ته خاص پاملرنه کوله نو بې ځنډه د د تحریف د حدیثونو په باطل والي پوهیږي. چې دغه روایتونه یا ضعیف دي چې د دلیل په کار نه راځي یا جعلي دي او د جعلي شونې علامې یې څرګندې دي او یا غریب دي چې له ذهنه لرې ښکاري. خو چې کوم صحیح وي نو هغه تاویل یا تفسیر

۱. شرح الوافیه فی علم الاصول: خطي نسخه.
۲. مفاتیح الاصول: په حجیة الظواهر بحث کې.

کيږي او دغه تحريف په همدې تفسير او تاويل کې رامنځته شوی دی نه د قرآن په ټکو او عبارتونو کې.

د دې خبرو بيان يو ځانګړي کتاب ته اړتيا لري چې په کې په پيړيو پيړيو د قرآن تاريخ او رحلې چې کومې ورباندې تيرې شوي دي په تفصيل سره بيان شي. او په لنډه دا ويلې شو چې دغه کتاب هماغه اصلی کتاب دی چې کوم زمونږ په لاسونو کې اوس موجود دی او هيڅ تحريف او زياتې او کمې په کې نه دی شوی. او په قرائت کې اختلاف ډير وروسته رامنځته شوی دی او دغه اختلاف اجتهاد سره اړه لري او هغه وحي سره هيڅ اړه نه لري کوم چې د جبرائيل امين په وسيله د پيغمبر په زړه نازله شوې ده.[1]

۲۱. سيد ابوالقاسم خوئي(رح) وفات کال ۱٤۱۳ هـ ليکي:

د تحريف دعوا يوه خيالي دعوا ده چې هيڅ څوک يي منونکې نشته مګر هغه کس چې عقل يې کم وي يا هغه کس چې په ځيرتيا سره په دې اړه فکر ونه کړي يا د خپل زړه په ګروهنې دا خبره مني او له دې سببه چې يو شي سره مينه انسان ړندوي او کڼوي نو بيا له کوم تحقيقه دغه ضعيف روايتونه مني او دغه خيالي دعوې قبلوي. خو هغه کس چې عاقل او انصافدار وي نو هغه په دې کې هيڅ شک نه کوي چې دا خبرې باطلې دي.[2]

۱. تهذيب الاصول: ټوک ۲، مخ ۱٦۵.
۲. البيان فی تفسير القرآن، خوئی: مخ ۲۵۹.

۲۲. شيخ لطف الله صافي گلپايگاني(رح) ليکي:

کوم قرآن چې زموږ لاس کې دی، هماغه کتاب دی چې د مسلمانانو د ټولو فرقو شريک او د ټولو اصلي سرچينه دی چې له دې وروسته سنت دی، هغه سنت چې باور ورباندې صحيح وي، يعنې هغه د قرآن مخالف نه وي. قرآن يوه داسې سرچينه ده چې ټول خلک په اصولو، فروعو او اختلافونو کې هغې سره دليل راوړي هغه په دې باندې او په مشروط سنت باندې باور کوي. نو د امت ټول کسان که شيعه وي که سنی د قرآن ټول محکمات مني او د متشابهاتو په هکله يې وايي: ﴿آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا﴾؛ موږ په دې باندط ايمان راوړ او قبول مو کړل چې ټول د خدای له لورې دي چې زموږ رب دی.[1]

۱. القرآن مصون عن التحريف: ټوک ۵، چ دارالقرآن الکريم؛ صيانه القرآن من التحريف: آيت الله معرفت: مخ ٤٤ ـ ۷۰؛ التحقيق في نفی التحريف: مخ ۱۰ ـ ٢٦.

## پینځم څپرکی:
## د تحریف د شبهې د رامنځته کیدو سببونه

روښانه ده چې دا شبهه او اعتراض د اسلامی د زړو او نوو دشمنانو له خوا د لاندینې غرضونو په ترڅ کې رامنځته شوې ده:

١. د اسلام له ټولو مزبوت او حق دلیل له منځه وړلو لپاره؛

٢. د اسلامی شریعت له ټولو مهمه سرچینه له حجیت او اعتباره د غورځولو لپاره؛

٣. په مسلمانانو کې چې د یووالي کوم راز دی په هغې باندې د مسلمانانو شك کې اچولو لپاره، که څه هم تر اوسه یې مسلمانان خپل دین ته نه دي ګروهلي چې قرآن هغه دینونه تحریف شوي ګڼلي دي، خو لږ تر لږه یې د هغوي په ایمان او عقیده کې شك اچولی دی.

٤. د مسلمانانو تر مینځ جدایي اچول په داسې طریقه چې هغوي په یو بل باندې د قرآن د تحریف تور ولګوي.

٥. د مسلمانانو ذهن دې خبرې ته ګروهل چې د هغوی فکر سکولاریسم قبلولو ته چمتو کړي او خپلو دیني سرچینو ته د شك په سترګه وګوري.

٦. همدارنګ بعیده نه ده چې شبهه یهودیانو او عسایانو رامنځته کړی وي؛ ځکه چې قرآن آسماني کتابونو سره د دوي کړچار بد ګڼلی دی، ځکه چې په دغه کتابونو کې یې تحریف کړی دی، له دې سببه یې کوشش کړی دی چې قرآن هم تحریف شوی وښایي. او کله چې د قرآن په

سلامتۍ کې شک راشي نو اسلام به د دوي له دينونو کومه ځانګړتيا ونه لري... خدای پاک فرمايي:

﴿وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم﴾[۱]

ډير اهلی کتاب دا خوښوي چې تاسو له ايمان راوړو وروسته کفر ته ستانه کړي، ځکه چې تاسو سره حسد لري.

۱. بقره: (۲)، ۱۰۹.

## شپږم څپرکی:
## د تحریف د روایتونو په وړاندې دریځ

لومړی) هغه دریځ چې د تحریف د روایتونو په وړاندې د اهل سنتو په کتابونو کې راغلی دی

دلته د اهل سنتو له کتابونو ځینې روایتونه راوړو او هغه څه چې د دې روایتونو په تاویل کې راغلي دي او هغه څه چې د دې به بطلان کې راغلی دي دلته بیانوو، او نور روایتونه هم دې بیلگې سره مقایسه کوو.

لومړی قسم) هغه روایتونه چې یو سورت یا ځینې آیتونه یې ذکر کړي دي او دا گمان یې کړی دی چې دا په قرآن کې موجود وو او ترې حذف شوي دي یا ځینو دا گمان کړی دی چې تلاوت یې نسخ شوي دي یا مارغه هغه خوړلي دي:

الف) د احزاب سورت د بقرې سورت هومره دی.

۱. له عایشه روایت شوی دی: سوره احزاب د خدای د رسول په زمانه کې دوه سوه آیتونه و خو مونږ د دې آیتونو چې کوم اوس موجود دي پیدا نه کړل.[۱] او په محاضرات الراغب کې راغلي دي: سل آیتونه.[۲]

---

۱. الاتقان: ټوک ۳، مخ ۸۲؛ تفسیر قرطبی: ټوک ۱٤، مخ ۱۱۳؛ مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲۷۳؛ الدرّ المنثور: ټوک ٦، مخ ٥٦٠.
۲. محاضرات الراغب: ټوک ۲، مخ ٤، مخ ٤۳٤.

۲. له عمر، اُبي بن کعب او عکرمه مولي ابن عباس روایت شوی دی:

سوره احزاب د بقرې سورت هومره یا له دې هم اوږد و او د رجم آیت په هغې کې و.[1]

ابن صلاح وایی چې له موجودو آیتونو زیات چې کوم دوي یادوي هغه یې تفسیر و. او سیوطي او ابن حرم وایي د هغو آیتونو تلاوت نسخ شوی و. او څوک چې په دې روایتونو کې فکر وکړي نو ګوري چې د احزاب سوره د اندازې په هکله په همدې روایتونو کې په خپلو کې ډیر اختلاف دی. او دا خبره یې په صحیح نه شونې او بطلان دلالت کوي. او هغه د رجم آیت چې په دویم روایت کې ورته اشاره شوې ده، د دې روایتونو په څلورم قسم کې ورته اشاره کوو.

ب) لو کان لابن آدم و ادیان...

له ابوموسی روایت شوی دی چې هغه د مصر قاریانو ته وویل:

مونږ به یو سورت تلاوت کاوه چې د هغې اندازه او د لحن سخت والي به مو برائت سورت ته ورته ګڼله او اوس مې هغه هېر شوی دی خو یوازې

۱. الاتقان: ټوک ۳، مخ ۸۲؛ مسند احمد: ټوک ۵، مخ ۱۳۲؛ المستدرک: ټوک ٤: ص۳۵۹؛ السنن الکبری: ټوک ۸، مخ ۲۱۱؛ تفسیر قرطبی: ټوک ١٤، مخ ۱۱۳؛ الکشاف: ټوک ۳، مخ ۵۱۸؛ مناهل العرفان: ټوک ۲، مخ ۱۱۱؛ الدر المنثور: ټوک ٦، مخ ۵۵۹.

دا مې ترې یاد دی: لو كان لابن آدم و ادیان من مال لابتغي وادیاً ثالثاً و لایملأ جوف ابن آدم الا التراب.[1]

که بنیادم لپاره د مال نه ډکې دوه وادې وې، نو دا هیله به یې کوله چې دریمه وادي یې هم لرلې او بنیادم حریصې سترګې به له خاورو بل څه نه شي ډکولی.

ابن صلاح، دا خبره حدیث ګڼي او وایي: دا خبره د خدای د رسول صلی الله علیه و آله په حدیثونو کې راغلې ده او داسې نه ده چې هغه د خدای کلام وګڼو. هغه حدیث چې له عباس بن سهل روایت شوی دی، دا مطلب تاییدوي. هغه وایي: له ابن زبیره مې واریدل چې په منبر یې وویل: لَو أنّ ابن آدم اُعطي وادیان.... که بنیادم ته دوه دشتې ورکړې شي.... .

زبیدي دا حدیث څلور څلویښتم متواتر حدیث ګڼلی دی او ویلي یې دی: له اصحابو پینځلسو کاسنو دا حدیث نقل کړی دی.[2]

احمد په المسند کې له ابی واقد لیثی نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث قدسي دی.[3]

خو د ابوموسی دا دعوا چې مونږ به یو سورت تلاوت کاوه چې د هغې اندازه او د لحن سخت والې به مو برائت سورت ته ورته ګڼله... که داسې

---

۱. صحیح مسلم: ټوک ۲، مخ ۷۲٦، ح ۱۰۵۰.
۲. مقدمتان فی علوم القرآن: مخ ۸۵ ـ ۸۸.
۳. مسند احمد: ټوک ۵، مخ ۲۱۹.

وې نو نور به تې هم خبر وو او د خدای رسول او د وحي لیکوالانو به هغه لیکلې وې او حافظان او قاریان به له هغې نه غافلیدل.

ج) د خلع او حفد سورتونه

په روایت کې راغلي دي چې د خلع او حقد سورتونه د ابن عباس، أبي بن کعب او ابن مسعود په مصحفونو کې وو او عمر بن خطاب به د لمانځه په قنوت کې هغه لوستل او ابوموسی اشعري به هم هغه تلاوتول... او هغه دوه دا دي:

۱. اللهم إنّا نستعینك و نستغفرك و نثني علیك و لا نکفرك و نخلع و نترك من يفجرك.

۲. اللهم إيّاك نعبد و لك نصلّي و نسجد و إليك نسعی و نحفد، نرجو رحمتك و نخشی عذابك، إنَّ عذابك بالكافرين ملحق.[1]

زرقاني، باقلاني او جزيري او نورو دا دواړه دعا ګڼلې دي او د انتصار لیکوال وايي:

کوم قنوت چې روایت شوی دی که څه هم ابن بن کعب هغه په خپل مصحف کی لیکلی دی، خو په دې څه دلیل نشته چې هغه د قرآن برخه وه. بلکڅ دا د دعا یوه برخه ده او که چرې قرآن وې نو مونږ ته به نقل شوی و او د صحیح شونې علم به یې رارسیدلی و.

---

۱. مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲۵۷؛ روح المعاني: ټوک ۱، مخ ۲۵.

تر دې چې ليکي:

دا خبره د هغه د هغه په خپله نقل سره صحيح نه ده بلکې روايت دی چې هغه دا په خپل مصحف کې ليکلی و، په داسې حال کې چې هغه ځينې مطلبونه او تاويلونه له دې دعا په خپل مصحف کې راوړي دي او دا دعوا نه کي چې دا قرآن دی.[1]

له دې پرته دا دعا الدر المنثور، الاتقان، السنن الکبري، المصنف او نورو سرچينو کې په ډيرو روايتونو کې له ابن ضرس، بيهقي و محمد بن نصر نقل شوې ده او هغوي دا دعوا نه کوي چې دا قرآن دی.[2]

د) د رجم آيت

په بيلا بيلو لارو نقل شوي دي چې عمر بن خطاب ويلي دي

اياکم ان تهلکوا عن آية الرجم...؛ خيال کوئ چې د رجم د آيت له امله هلاک نه شئ.

قسم په هغه خدای چې ځان مې د هغه په لاس کې دی، که خلکو دا نه ويلې چې عمر په قرآن يو څه ورزيات کړي نو هرو مرو به مې دا په قرآن کې ليکه:

---

۱. همان: ټوک ۱، مخ ۲٦٤.

۲. السنن الکبری: ټوک ۲، مخ ۲۱۰، المصنف: ټوک ۳، مخ ۲۱۲.

الشيخ و الشيخوخة اذا زنيا...؛ كه بوډا او بوډۍ زنا وكړي، نو هغه رجم كړئ، دا د خداى له لورې عذاب دى او هغه حكيم او ماتې نه خوړونكې خداى دى، او بيشكه مونږ به دا آيت تلاوتوه.[1]

ابن شاته نقل كړي دي: په المصاحف كې له ليث بن سعده راغلي دي:

عمر بن خطاب د رجم آيت زيد بن ثابت ته راوړ، خو زيد ترې هغه قبول نه كړ او ويې نه ليكه، ځكه چې خبر واحد و او د ځان لپاره يې كوم شاهد هم نه درلود.[2]

ابن حزم په المحلى كې د رجم آيت په دې طريقې كړى چې حكم يې باقى او لفظ يې نسخ شوى دى.

خو دا طريقه يې باطله ده، ځكه چې كه لفظ يې منسوخ شوې وې، نو عمر به هغه لفظ نه راوړه چې په مصحف كې وليكلې شي. بان ظفر په الينبوع كې د تلاوت د نسخ انكار كړى دى او وايى: د خبر واحده په وسيله قرآن شونه نه ثابتيږي.[3]

ابو جعفر نحاس وايى چې دا سنت دى: د حديث سند صحيح دى خو د هغې حكم د قرآن هغه حكم نه دى چې يوې ډلې په متواتره توګه نقل كوې وي خو له ثابت شوى سنته يې ګڼلې شو. او كله كله انسان وايي: مو

۱. المستدرك: ټوك ٤، مخ ٣٥٩ ـ ٣٦٠؛ مسند احمد: ټوك ١، مخ ٢٣، ٢٩، ٣٦، ٤٠ و ٥٠؛ طبقات ابن سعد: ټوك ٣، مخ ٣٣٤؛ سنن الدارمى: ټوك ٢، مخ ١٧٩.
۲. الاتقان: ټوك ٣، مخ ٢٠٦.
۳. البرهان، زركشى: ټوك ٢، مخ ٤٣.

به داسې لوسته خو هغه قرآن نه و. په دې خبرې دليل دا دی چې هغه وايی:

چې له دې نه ويريدم چې خلکو دا نه ويلې چې عمر په قرآن يو څه ورزيات کړي نو هرو مرو به مې دا په قرآن کې ورزياتوه.[1]

هـ) د جهاد آيت

روايت شوی دی چې عمر له عبدالرحمن بن عوف وپوښتل:

آيا په هغه څه کې چې نازل شوي دي دا آيت نه مومې: (جاهدوا کما جاهدتم أوّل مرّة؟) مونږ خو په کې دا ونه مونده. عبدالرحمن ويل: دا له هغه آيتونو دی چې له قرآنه پاتې شوی دی.[2]

بايد ووايو: ايا په روايت کې يې داسې نه دي ويلي چې په دې شرط به يو آيت په قرآن کې ليکلی شو چې له اصحابو دوو کسانو ورباندې ګواهی ورکړې وې چې دا له هغو آيتونو دی چې په رسول الله صلی الله عليه و آله نازل شوی دی نو په داسې حالت کې يې بيا څه منعه لرله چې عمر او عبدالرحمن بن عوف ورباندې ګواهی ورکړي چې دا د قرآن له آيتونو دی چې په مصحف کې وليکلی شي؟ او همدا دليل دی چې دا حديث جعلی دی ګني څه رنګ ممکنه وه چې دا آيت د حافظانو، قاريانو، او د

---

۱. الناسخ و المنسوخ: مخ ۸.

۲. الاتقان: ټوک ۳، مخ ۸٤؛ کنزالعمال: ټوک ۲، حديث ٤٧٤١.

وحي د کاتبانو له سترګو پټ پاتې وي او یوازې عمر او عبدالرحمن بن عوف دا اوریدلی وي؟!

و) غټ سړي ته لس ځلې شودې ورکولو آیت

له عایشې بي‌بي روایت شوی دی:

د رجم او د غټ سړي د رضاع آیت نازل شو او په هغه مخ چې زما د بسترې لاندې و ولیکلې شو. بیا د خدای رسول صلی الله علیه و آله وفات شو، مونږ د هغه په کفن دفن لګیا شو یوه چرګه راغله او هغه یې وخوړ.[1]

د دې آیت له ظاهره دا راوځي چې داسې ښکاري لکه بې له بی بی عایشې بل چا قرآن نه لیکه او حفظ کاوه او دا یوه ډیره عجیبه او لرې خبره ده. او باید پوښتنه وشي چې ټول اصحاب، حافظان او د وحي لیکلوالان چرته وو؟ سرخسي وایي:

د عایشې بي‌بي دا روایت صحیح نه دی که څه هم د عایشې بی بی لیکل یوې چرګې خوړلي وي خو قرآن د حافظانو په سینو کې حفظ و او هغوی ته کومه ستونزه نه وه راپیښه چې دا آیت یې په نورو صحیفو کې هم ونه لیکه. نو دې ته په پام دا حدیث جعلي دی او هیڅ کوم بنسټ نه لري.[2]

---

۱. مسند احمد: ټوک ٦، مخ ٢٦٩؛ المحلّی: ټوک ١١، مخ ٢٣٥؛ سنن ابن ماجه: ټوک ١، مخ ٦٢٥؛ الجامع لاحکام القرآن: ټوک ١٤، مخ ١١٣.
۲. اصول سرخسي: ټوک ٢، مخ ٧٩.

د رجم د آیت په هکله هم وویل شول چې هغه مونږ د قرآن په توګه نه شو ګڼلی؛ ځکه چې خبر واحد دی او د رجم حکم د پیغبر له ثابتو سنتونو و.

او دا حکم چې له لس ځله شودې ورکولو رضاعت راځي، له هغه حکمونو دی چې یوازې عایشې بي‌بي نقل کړی دی او د پیغمبر نورو ببیانو هغې سره مخالفت کړی دی او د پیغمبر یوې بي بي هم د هغې دا دعوا نه ده قبوله کړې. همدارنګ ابن مسعود دا مطلب له ابوموسی اشعري انکار کوي او وایی:

رضاعت هغه وخت راځي چې شودې ځښل د خوښې او وینې جوړیدو سبب وګرځي له دې وروسته چې ابن مسعود ورسره مخالفت وکړ ابوموسی هم له دې خبرې لاس واخست.[1]

ټول اصحاب او د وحي لیکوالان او حافظان او د قرآن راغونډوونکي دا حکم نه مني او یوازې بي بي عایشه دا وایي چې لسو ځلو شودې ورکولو سره رضاعت ترلاسه کیږي.

که دا مطلب صحیح هم وي نو دا یو روایت و چې بي‌بي عایشې له پیغمبره اوریدلې و او دا ګمان یې کاوه چې دا د قرآن آیت دی او لیکلې یې دی لکه څنګه چې له برا بن عازب روایت شوی دی:

---

۱. جامع بیان العلم: ټوک ۲، مخ ۱۰۵.

د خدای رسول وفرمایل: بیشکه چې خدای او ملائکې پر هغه چا درود وایي چې په لومړي صف کې وي.[1]

او له عایشې بي‌بي روایت شوی دی: د خدای رسول صلی الله علیه و آله وفرمایل: بیشکه چې خدای او رسول پر هغه چا درود وایی چې لومړي صفونه وتړي.[2]

او کیدې شی دا خبره د مصحف په یو حاشیه کې لیکې شوي وي او دا ګمان شوې دی چې دا قرآن دی، ځکه چې ځینې لیکوالانو به هغه مطلبونه چې د هغوي په نظر کې مهم وو د مصحف په حاشیه کې لیکل.

او اخر دا چې که یو کس دا ذکر شوي خبرې وګوي، نو ورته څرګندیږي چې د عربي قاعدو او د قرآن اسلوبو سره او بلاغت سره سمونه نه خوري او همدا خبره په دې دلالت کړي چې دا خبرې د قرآن نه دي او د قرآن په شان تازه والې، ښوروالې او ښکلا نه لري، بلکې د هغې د سپک والي او بې قاعدې شونې په هکله خلک نیوکه کوي. او دا به څه رنګ د قرآن خبرې وي چې د پیغمبر تل پاتې معجزه ده، شیخ بلاغي د خپل تفسیر تفسیر آلاء الرحمن په سریزې کې په تفصیل سره خبرې کړي دي او د لا زیاتې خبرتیا لپاره باید هلته رجوع وکړو. څوک چې دا دعوې وګوري نو ورته څرګندیږي چې ځینې د پیغمبر(ص) له حدیثونو اخستې شووي ځینې له سنته او ځینې حکمونه وو او خلکو دا

---

۱. المصنّف: ټوک ۲، مخ ٤٨٤.

۲. المستدرک: ټوک ۱، مخ ۲۱٤.

ګمان کړی چې قرآن دی، لکه څه رنګ چې ځینې روایت کړی دی: الوَلَدُ للفراش و للعاهر الحجر؛ ماشوم په واده پسې ځي او د زناکار لپاره سنګسار دی، چې دا هم د قرآن آیت دی په داسې حال کې چې شك نشته چې دا حدیث دی. له دې پرته دغه آیتونه چې دعوا یې کیږي چې له قرآنه دي په بیلا بیلو الفاظو سره راغلي دي او که چرې وې نو یو رنګ الفاظ به یې لرل.

د نسخ قسمونه او تلات د نسخ څه رنګوالی

نسخ په قرآن کریم کې په درې قسمه دی:

۱. د حکم نسخ، بې له تلاوته: قرآن کریم د دې قسم په هکله خبرې کړي دي او دا قسم د عالمانو او مفسرانو تر مینځ مشهور دی او دا خبره عقل سره سمه او د قبلیدو وړ ده، ځکه چې د قرآن حکمونه یو ځل نه دي نازل شوی، بلکې ورو ورو تدریجا نازل شوي دي چې خلك هغه سره عادت شي او عقل هغه ومني نو ورو ورو لومړي حکمونه له مینځه تلي او د هغې الفاظ او ټکي د قرآن د ترتیب او تشریعی په غرض چې خدای ورباندې ښه پوهیږي باقی پاتې دي.

۲. د تلاوت نسخ، بې له حکمه: د دې قسم لپاره د رجم د آیت مثال راوړې شوی دی چې ویلي یې دي: دا آیت په قرآن کې و خو الفاظ یې نسخ شوي او حکم یې باقي پاتی دی!

۳. د حکم او تلاوت دواړو نسخ: د دې لپاره یې د رضاع آیت د مثال په توګه راوړی دی.

په تيرو بحثونو کې وويل شول چې ځينو هغه روايتونه چې د قرآن په کمی يې دلالت کاوه، په طريقې حل کړي دي چې هغه داسې آيتونه وو چې تلاوت يې نسخ شوی دی او حکم يې باقي پاتې دی يا تلاوت او حکم دواړه يې نسخ شوي دي. دوي له دې سببه دا قول راوړی دی چې له يوې خوا د قرآن له تحريفه ځان وساتي چې ډيرې بدې پايلې لري او له بلې خوا وربانديې دا نيوکه رانه شي چې په صحيحينو کې جعل شوی او دروغ حديثونه دي او روايانو باندې يې کومه نيوکه ونه شي! او په دې کې څه شک نشته چې د نسخ دوه اخرني قسمونه بالکل تحريف سره سم دي او لاندينيو دليلونو سره باطل دي:

الف) د عقل له مخې دا خبره محال ده چې لفظ نسخ شي خو حکم نسخ نه شي، ځکه چې په حکم باندې د دلالت لپاره بايد لفظ وي ګڼي نو کوم څيز په حکم دلالت کړي؟ نو حکم لفظ پسې راځي او امکان نه لري چې اصل نسخ شي او فرع باقي پاتې شي.

ب) نسخ يو حکم دی او حکم لپاره ضروري ده چې له حديث يا قرآنه (نص سره) وي او دا دواړه له يو بله نه جلا کيږي او داسې دليل مونږ سره نشته چې تير شوي آيتونه يې نسخ کړي ښودلی وي، ځکه د هغوي په هکله د کوم نسخ نه دی نقل شوی او د پيغمبر(ص) په حديث کې نه دي راغلي چې دغه آيتونه نسخ شوي دي، په داسې حال کې چې ضروري وه چې هغه حضرت صلی الله عليه و آله خپل امت ته اطلاع ورکړي چې فلانکې مطلب نسخ شوی دی، لکه څه رنګ چې په هغه حضرت صلی الله عليه و آله واجب دي چې د خدای وحي خلکو ته ورسوي. او له دې سببه چې دا کار نه دی شوی نو د نسخ دعوا باطله ده.

ج) هغه حدیثونه چې د تلاوت د نسخ دعوا کوي، خبر واحد دي او په هغوي باندط هیڅ دلیل او برهان نشته، ځکه چې ټول عالمان په دې خبره یوه خله دي چې د خدای په کتاب کې خبر واحد سره نسخ نه شي کیدی[1] او قطان د دې خبرې نسبت جمهور ته ورکړی دی [2] او رحمت الله هندي د دې د علت په بیان کې وایی:

که خبر واحد د عمل غوښته ولري او په قطعي دلیلونو کې په هغې کوم دلیل نه وي، نو واجبه ده چې هغه رد کړو.[3]

بلکې شافعي او د هغه اصحابو او ډیرو هغه کسانو چې د آیتونو او روایتونو ظاهر سره تمسک کوي، ویلي دي: په یقین سره چې د متواتر سنت سره د قرآن نسخ منعه شوی دی. احمد ابن حنبل په یوه روایت کې چې له هغه نقل شوی دی د دې خبرې څرګندونه کوي، بلکې تر دې چې هغه کسان چې په متواتر سنت سره نسخ جایز ګڼي هغوي هم د نسخ منکر دي. [4]

نو دې ته په پام د تلاوت د نسخ دعوا چې حکم یې باقي پاتې وي یا یې حکم هم نسخ شوی وي صحیح نه ده، که څه هم متواتر حدیثونو سره

۱. الموافقات: شاطبی، ټوک ۳، مخ ۱۰٦.
۲. مباحث فی علوم القرآن: مخ ۲۳۷.
۳. اظهار الحق: ټوک ۲، مخ ۹۰.
٤. الأحکام: الآمدی: ټوک ۳، مخ ۱۳۹؛ اصول سرخسی: ټوک ۲، مخ ٦۷.

نسخ شوی وي، بیا لا پاتې هغه حدیثونه چې خبر واحد او د سند او دلالت له مخې ضعیف روایت سره.

د) ځینې معتزله او د شیعو ټول عالمان د اخرنی دوه قسمو منکر دي او دا دوه تحریف سره سم ګڼي. همدارنګ د اهل سنتو تیر او نزدې محققان هم د دو قسمونو انکار کوي. قاضي ابوبکر په الانتصار کې له ځینې کسانو نقوي چې د نسخ د دویم قسم انکار یې کړی.[1] او ابن ظفر هم په کتاب الینبوع کې انکار کړی[2] او له ابي مسلمه نقل شوي دي: د تلاوت نسخ شرعا منعه شوی دی.[3]

د تلاوت د نسخ بطلان

په دې برخه کې د اهل سنتو د ځینې عالمانو د تلاوت دنسخ قول ته اشاره کوو:

۱. خضري وايي:

زه نه پوهیږم چې خدای څه رنګ یو آیت د حکم د بیانولو لپاره نازل کړ، بیا یې آیت لری کړ او حکم یې باقي پاتی دی؟! دا په داسې حال کې دي چې قرآن، له دې آیته هم د اعجاز غرض او هم د حکم غرض په نظر کې نیولی و. نو په دې حالت کې به کوم یو داسې مصلحت وې

۱. البرهان فی علوم القرآن: ټوک ۲، مخ ٤٧.
۲. همان: ټوک ۲، مخ ٤٣.
۳. مناهل العرفان: ټوک ۲، مخ ۱۱۲.

چې حکم یې پریښې وي او آیت یې حذف کړی وي؟ دا څیز د پوهیدو وړ نه دی او د دې قوم د قبلولو لپاره هیڅ دلیل نشته.[۱]

۲. ډاکټر صبحي صالح لیکي:

د دویم او دریم قسم دعوا ډېره عجیبه ده چې د دوي په ګمان معین آیتونه نسخ شوي دي او نسخ یا حکم سره ده او یا بې له حکمه دی. دا تقسم هغه وخت صحیح دی چې د هر یو قسم لپاره کافی مقدار کې دلیلونه او ګواهۍ ولرو چې له هغو یوه قاعده راوباسل ممکن وي، په داسې حال کې چې د نسخ منونکي، بې له یو یا دوه ځایونو دلیل نه لري!! او هغه ټول څه چې یې نقل کړي دي د خبر واحد په وسیله دي او دا جایزه نه ده چې قرآن چې کوم قطعی السند(یقیني) دی یو خبر واحد سره چې سند کې یې هم شک دی نسخ شي.[۲]

۳. داکټر مصطفي زید لیکي:

په دې طریقې چې د یو آیت تلاوت منسوخ شوی وي او حکم یې باقي پاتې وي یو داسې فکر دی چې یو ځاي کې هم نه دی ترسره شوی، له همدې سببه دا پریږدو ځکه چې یوه غیر عقلي خبره ده.[۳]

---

۱. التحقیق فی نفی التحریف: مخ ۲۷۹؛ صیانه القرآن من التحریف: مخ ۳۰.
۲. مباحثٌ فی علوم القرآن: مخ ۲٦۵.
۳. فتح المنان: مخ ۲۲۹.

٤. عبدالرحمن جزیري لیکي:

هغه روایتونه چې په هغې کې «من کتاب الله» ټکې راغلی او دا دعوا شوې ده چې دا ټکي په قرآن کې وو او د پیغمبر(ص) په زمانه کې حذف شوي دي، نو عالمان ټول په یوه خله دي چې دا ځایونه چې دعوا یې کیږي ورته قرآن نه شي ویلې کیدی او د قرآن حکمونه ورباندې نه جاری کیږي که د دې حدیثونو تاویل ممکن وي او دا له قرآنه خارجولی شي، نو د حدیث ورته ویلی شو او که تاویل یې ممکن نه وي نو زما په عقیده، په شرعي حکم باندې د دلالت وړتیا نه لري. نو ښه لاره دا ده چې له داسې روایتونو لاس واخستی شي.[1]

٥. ابن خطیب لیکي:

ځینې دا دعوا کوي چې د ځینې آیتونو تلاوت نسخ شوی او حکم یې باقی پاتې دی. دا داسې دعوا ده چې عاقل انسان یې نه قبلوي، ځکه چې دا پوښتنه کوي: د تلاوت د نسخ او د حکم د باقي پاتی کیدو سبب څه دی؟ د یو داسې قانون واجبول چې الفاظ یې نه وي او پیروي او عمل ورباندې واجب وي په دې باندې کوم شرعی یا عقلي دلیل دلالت کړي؟ هغوی د خپلې دعوې د ثابتولو لپاره یو مثال راوړي، په داسې حال کې چې خدای پوهیږي چې دغه ټکي له قرآنه نه دي ځکه که دا ټکي قرآن

١. الفقه علی المذاهب الاربعه: ټوک ٤، مخ ٢٦٠.

وې، نو اصحاب به ترې غافل نه پاتې کیدل او مشرانو نیکانو به په خپلو مصحفونو کې لیکلي وو.[1]

دویم قسم) هغه روایتونه چې په لحن (نحوي غلطۍ) او بدلون دلالت کوي.

۱. له عثمنه نقل شوي دي:

په دې مصحف کې په حرکتونو کې ځینې بدلون راغلی دی چې عرب یې د خپلې ژبې په مناسبت صحیح کوي. ویلي شوي دي: ولې هغه نه صحیح کوي؟ ویې ویل: هغه پریږدئ، ځکه چې نه ورسره یو حرام حلالوي او نه ورسره حلال حراموي.[2]

ابن اشته، دغه اشاره شوی لحن چې حدیث کې راغلی په دې معنې صحیح نه ګڼي، بلکې له ټولو ښه لاره دا ده چې د روایت دروغ وګڼو او انکار یې وکړو او پرېږ یې دوو. لکه څنګه چې داني، رازي، نیشابوري، ابن انباري، آلوسي، سخاوي، خازن، باقلاني، او نورو دا کار کړی دی.[3] هغوي د دې خبرې څرګندونه کړې ده چې د دې روایتونو سره هیڅ نه ثابتیږي، ځکه چې د دې سند ضعیف دی او په کې شک، د سند پریکیدل

۱. الفرقان: مخ ۱۵۷.

۲. الاتقان: ټوک ۲، مخ ۳۲۰ ـ ۳۲۱.

۳. تاریخ القرآن، الکردی: مخ ٦٥؛ التفسیر الکبیر: ټوک ۱۱، مخ ۱۰۵؛ تفسیر نیشابوری: ټوک ٦، مخ ۲۳، د تفسیر طبری په حاشیه کې چاپ شوی؛ تفسیر خازن: ټوک ۱، مخ ٤۲۲.

او ګډوډيدل شته دي. له بلې خوا قرآن په متواتره توګه د خدای له رسوله نقل شوی دی او د لحن ثابتول په هغې کې امکان نه لري. له دې پرته کوم څه چې د خلکو په لاس کې دي د ټولو مسلمانانو په اجماع سره عين د خدای کلام دی او دا جايزه نه ده چې د خدای په کلام کې لحن يا غلطي راشي. ټول اصحاب او د امت ټول عالمان، په دې يوه خله دي چې د قرآن ټول الفاظ صحيح دی او په کې هيڅ خطا او غلطي نه ده راغلی. همدارنګ يې د دې روايت انکار کړی دی او دليل يې راوړ دی: عثمان د خلکو مشر دی نو څه رنګ ممکنه وه چې په قرآن کې يو لحن وګوي او همداسې يې پريږدي چې عرب يې د خپلې ژبې په مطابق صحيح کړي ياخبره وروسته ته پريږدي چې نور خلك يې صحيح کړي؟ که هغه اصحاب چې د قرآن د ليکلو او راغونډولو دنده يې پر غاړه وه هغوي يې صحيح نه کړي نو وروسته خلك به يې څه صحيح کړي؟ له دې پرته عثمان خو يو مصحف نه و ليکلی بلکې څو مصحفونه يې ليکلي وو او دغو ټولو مصحفونو په خپلو کې فرق نه درلود، مګر د قرائت او تلاوت په ځينې ځايونو کې نه په رسم الخط کې. او دې اختلافاتو ته لحن نه وايي.[1]

هغه څه چې په دې هکله زمونږ شك او ترديد نور هم زياتوي هغه دا دی چې دا روايت له عکرمه نقل شوی دی. هغه د ګمراهانو مشر او خوارجو سره په يوه عقيدې و. او په دروغ ويلو او تهمت لګولو کې خلك د هغه مثال ورکوي او لويان لکه ابن عمر، مجاهد، عطا، ابن سيرين، مالك بن

---

۱. روح المعاني: ټوک ٦، مخ ١٣.

أنس، شافعي، سعید بن مسیب او یحیي بن سعید هغه دروغجن ګڼي او د باور وړ یې نه ګڼي مسلم ترې ډېره کړی او مالك د هغه روایتونه حرام ګڼلي دي![1]

۲. له ابن عباسه روایت شوی دی چې د خدای پاک دا قول:

﴿حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا﴾[2]

حتی تستأذنوا و او لیکوال په غلطي سره تستأنسوا لیکلی دی.[3] او له استئناس یې مطلب اعلان کول دي؛ یعنی تر دې چې کوم کس چې په کور کې دی هغه ته اعلان وکړې.

د دې روایت په دروغه ابن عباس ته نسبت ورکړې شوی دی او صحیح نه دی؛ ځکه چې په اسلامی مصحفونو کې د تستأنسوا ټکې نه دی راغلی او د خدای د رسول صلی الله علیه و آله له وخته تر اوسه په دې باندې اجماع ده. نو په داسې حال کې دې روایت ته پام لرنه نه کیږي.

---

۱. وفیات الاعیان: ټوک ۱، مخ ۳۱۹؛ میزان الاعتدال: ټوک ۳، مخ ۹۳؛ المغنی فی الضعفاء: ټوک ۲، مخ ۸٤؛ الضعفاء الکبیر: ټوک ۳، مخ ۳۷۳؛ طبقات ابن سعد: ټوک ۵، ص۲۸۷؛ تهذیب الکمال: ټوک ۷، مخ ۲٦۳.

۲. الاتقان: ټوک ۲، مخ ۳۲۷؛ لباب التأویل: ټوک ۳، مخ ۳۲٤؛ فتح الباری: ټوک ۱۱، مخ ۷.

۳. التفسیر الکبیر: ټوک ۲۳، مخ ۱۹٦.

فخر رازي ليکي:

پوه شئ چې له ابن عباسه دا روايت په شک کې دی، ځکه چې په قرآن باندې دروغ او يا کمې ثابتوي کوم قرآن چې تواتر سره راغلی دی، نو به خبر واحد يې نه شو له منځه وړلی! او که دا دروازه خلاصه شي، نو په ټول قرآن کې به شک پيدا شي او دا خبره غلطه ده.[1]

ابوحيان ليکي: څوک چې له ابن عباس دا روايت کړي چې

﴿حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا﴾[2]

حتی تستأذنوا و او ليکوال په غلطي سره تستأنسوا ليکلی دی، نو داسې کس کافر او ملحد دی او ابن عباس له داسې تهمته پاک دی.[3]

۳. عروة بن زبير روايت کړی دی:

له عايشې بی بی د خدای پاک د دې قول په هکله:

﴿لَّكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ﴾[4]

مې پوښتنه وکړه او بيا مې د: المقيمين، او په سوره مائده کې د ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَادُواْ وَالصَّابِئُونَ﴾[1] او د ﴿إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ﴾ په هکله پوښتنه

۱. البحر المحيط: ټوک ٦، مخ ٤٤٥.
۲. الاتقان: ټوک ۲، مخ ۳۲۷؛ لباب التأويل: ټوک ۳، مخ ۳۲٤؛ فتح الباری: ټوک ۱۱، مخ ۷.
۳. نساء: (٤)، ١٦٢.
٤. مائده: (٥)، ٦٩.

وکړه نو هغې ځواب راکړ: ای زما وراره! دا غلطی د کاتبانو په سبب دي هغوي په ليکلو کې غلطي کړې ده.[2]

او د خدای دا قول: المقيمين، په المقيمون عطف شوی دی لکه څه رنګ چې د حسن او مالك بن دينار په قرائت کې راغلی دی خو کوم څه چې د اُبي او جمهور په مصحف او قرائت کې راغلي دي هغه: المقيمين دی.

سيبويه ويلي دي:

د مدح پر بنا ورته نصب ورکړی شوی دی. يعنی دا اراده کوو چې مقيمينو ته، او د خپلې خبرې د ثابتولو لپاره يې د عربو د کلام ګواهی او دليلونه هم راوړي دي.[3]

آلوسي ويلي دي:

د هغه کسان دعوې ته، چې دا يې په قرآن کې لحن ګڼلی دی، او صحيح قرائت يې (المقيمون) ګڼي، پاملرنه نه کيږي ځکه چې په دې کې کوم شك نشته چې دا نظم په متواتره توګه نقل شوی دی او هيڅ حالت کې جايزه نه ده چې ووايو لحن ترسره شوی دی.[4]

---

۱. طه: (۲۰)، ٦۳.
۲. الاتقان: ټوک ۲، مخ ۳۲۰.
۳. الکتاب: ټوك ۱، مخ ۲۸۸ ـ ۲۹۱.
٤. روح المعانی: ټوک ٦، مخ ۱۳.

او خدای دا قول: والصابئون، دا د رفع په حالت کې دی او د إنَّ د اسم په محل عطف شوی دی. فرّا وایی: دا کار هغه وخت جایز دی کله چې یې اعراب ظاهر نه وي، لکه ضمیر یا موصول وي. لکه دا شعر:

فمن يك أمسى بالمدينة رَحلَه فإنّي و قيارٌ بها لغريب

په دې شعر کې قيار د إنّ د اسم پر محل عطف شوی او مرفوع دی.[1] کوفیان و بصرې والا، په دې کې رفع جایز نه ګڼي او د عربو د کلام دلیلونه راوړي.

د المنار لیکلوال لیکي:

د اسلام ځنې دشمنانو دا جرأت کړی دی او دعوا یې کړې ده چې په قرآن کې لحن (نحوي غلطئ) راغلي دي او د (صابئون) رفع یې له هغو غلطو ګڼلې ده. دا د هغوي د ناپوهئ یا په زور ځان ناپوهه ګڼلو نښه ده، ځکه چې نحو له لغته راوځوي نه دا چې لغت له نحوې.[2]

او د خدای دا قول: إن هذان لساحران، د عامو مسلمانانو د قرائت پر بنیاد د (إن) سپک لوستلو سره ادا شوی دی یعنې بې له شده او دې ته عربی کې مخففه من المثقله وایی او عمل نه کوي او هذان مرفوع دی.

---

۱. معانی القرآن: ټوک ۱، مخ ۳۱؛ مجمع البیان: ټوک ۳، مخ ۳٤٦؛ صیانه القرآن من التحریف: مخ ۱۸۳.
۲. تفسیر المنار: ټوک ٦، مخ ٤٧٨.

زمخشري وايي:

إنْ هذانِ لساحرانِ، د دې قول په شان دی: إن زيدُ لمنطلقٌ. دلته لام فارقه راغلی دی چې د ان نافيه او ان مخففه من المثقله تر مينځ فرق وښايي.[1] دې ته په پام آيت کې هيڅ نيوکه نشته چې ليکوالانو په کې کړې وي.

فخر رازي ليکي:

دې ته په پام چې د دې قرائت نقل لکه د ټول قرآن د نقل په شان متواتر او مشهور دی، نو که غلط يې ومنو، نو دا حکم بيا ټول قرآن ته شامليږي او په پايلې کې به ټول قرآن چې متواتر دې نيوکې سره مخامخ شي، او دا خبره باطله ده.[2]

دريم قسم) هغه روايتونه چې په زياتي دلالت کوي.

۱. له عبدالرحمن بن يزيد روايت شوی دی:

«عبدالله بن مسعود، معوذتين له خپل مصحفه حذفول او ويل به يې: دا دوه د قرآن برخه نه دي.»[3]

---

۱. الکشاف: ټوک ۳، مخ ۷۲.

۲. التفسير الکبير: ټوک ۲۲، مخ ۷۵.

۳. مسند احمد: ټوک ۵، مخ ۱۲۹؛ الآثار: ټوک ۱، مخ ۳۳؛ التفسير الکبير: ټوک ۱، مخ ۲۱۳؛ مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲٦۸؛ الفقه علی المذاهب الاربعه: ټوک ٤، ص۲۵۸؛ مجمع الزوائد: ټوک ۷، مخ ۱٤۹.

۲. روایت ششوی دی چې عبدالله بن مسعود او همدارنګ ابی بن کعب به د فاتحې سورت په خپل مصحف کې نه لیکه.[۱]

د تحریف په معنا کې وویل چې د زیاتي تحریف باطل دي ځکه چې امت وربانديې یوه خله دی، ځکه چې په متواتر کتاب کې د شک سبب کیږي هغه کتاب چې په ټکي ټکي او خبره خبره یې مونږ ته یقین دی. او څوک چې د قرآن د یوڅیز هم انکار وکړي، له دینه وتی دی او کوم څه چې له ابن مسعود نقل شوي، هغه صحیح نه دي او د مسلمانانو د هغه اجماع مخالف دي چې د خدای د رسول صلی الله علیه و آله له وخته تر اوسه پورې یې لرو، ځکه چې د مسلمانانو په دې باندې اجماع ده چې معذتین او فاتحه د قرآن کریم برخه ده.

د مشهورو عالمانو نظر دا دی چې ابن مسعود ته د دې دوو روایتونو د نسبت ورکولو انکار کوي او وایي:

دا نقل باطل دی او په دروغه یې هغه ته نسبت ورکړی شوی دی.

لکه څه رنګ چې رازي، ابن حزم، نووي، قاضي ابوبکر باقلاني، ابن عبدالشکور، ابن مرتضی او نورو د دې څرګندونه کړې ده.[۱] او باقلاني ویلي دي: دا روایت، شاذ او جعلي دی.[۲]

---

۱. الجامع لاحکام القرآن: ټوک ۲۰، مخ ۲۵۱؛ الفهرست، ابن ندیم: مخ ۲۹؛ المحاضرات: ټوک ۲، مخ ٤، ح ٤۳٤؛ البحر الزّخار: مخ ۲٤۹.

د دې دوو روایتونو د چعلی ثابتولو لپاره یې دا استدلال کړی دی په هغه روایت سره چې د عاصم په روایت کې له زر بن حبیش له عبدالله بن سعوده روایت شوي دي چې په هغې کې فاتحه او معوذتان سورتونه راغلي وو. او که ابن مسعود دا سورتونه د قرآن برخه نه ګڼلی نو هغه به یې زر بن حبیش باندې قرائت نه کول او د هغه د قرائت د عالمانو له نظره صحیح نه ده.[۳]

ویلي شوي دي: ابن مسعود، معوذتین له خپل مصحفه پاک کړي دي، ځکه چې د لیکلو یې منکر و، خو د قرآن شونې یې منکر نه و او تلاوت یې صحیح ګاڼه. یا دا چې هغه لیدلي وو چې پیغمبر(ص) حسن او حسین ته دا دواړه سورتونه د تعویذ په توګه اچوي، له همدې سببه یې ګمان کړی دی چې دا د قرآن برخه نه دي. او له دې وروسته چې ورته ثابته شوه چې دا دواړه د قرآن برخه دي او متواتر دي اوورباندې اجماع شوې

۱. التفسیر الکبیر: ټوک ۱، مخ ۲۱۳؛ فواتح الرحموت در حاشیه ی المستصفی: ټوک ۲، مخ ۹؛ الاتقان: ټوک ۱، مخ ۷۹؛ البحر الزّخار: ټوک ۲، مخ ۲۴۹؛ المحلّی: ټوک ۱، مخ ۱۳.

۲. اعجاز القرآن در حاشیه ی الاتقان: ټوک ۲، مخ ۱۹٤.

۳. البرهان، زرکشی: ټوک ۲، مخ ۱۲۸؛ شرح الشفاء، قاری: ټوک ۲، مخ ۳۱۵؛ فواتح الرحموت: ټوک ۲، مخ ۹؛ مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲٦۹؛ المحلّی: ټوک ۱، مخ ۱۳.

ده، نو له لومړیو کسانو و چې وربانديې یې ایمان راوړ او هغه دواړه یې زد بن جبیش ته قرائت کړل او عاصم هغه له زر اخستي دي.[1]

دویم) د شیعو په سرچینو کې د تحریف د روایتونو په مقابله کې دریځ

په دې برخه کې د تحریف هغو روایتونو ته اشاره کوو چې د شیعو په سرچینو کې راغلي دي یا یې ځینو دعوا کړې ده چې ځینې روایتونه یې د قرآن په کمي دلالت کوي.

دغه روایتونه چې تاویل شوی یا رد شوي دي په څو ډوله دي:

لومړۍ ډله) هغه روایتونه چې د تحریف ټکې په کې راغلی دی:

۱. په کافی کې د علی بن سوید په سند سره راغلي دي: امام رضا علیه السلام ته مې هغه وخت لیک ولیکه کله چې هغه حضرت په بند کې و چې هغه حضرت راته ځواب ولیکي په هغه کې داسې ځینې خبرې راغلي دي:

«أوتمنوا علی کتاب الله، فحرّفوه و بدّلوه.»[2]

د خدای د کتاب امینان شول خو په هغې کې یې تحریف وکړ.

۲. ابن شهرآشوب په المناقبله امام حسینه علیه السلام یوه خطبه د عاشورا په ورځ نقل کړی چې په یوې برخې کې یې راغلي دي:

۱. شرح الشفاء: ټوک ۲، مخ ۳۱۵؛ مناهل العرفان: ټوک ۱، مخ ۲۶۹.
۲. الکافی: ټوک ۸، مخ ۱۲۵، ح ۹۵.

«إنّما أنتم من طواغیت الامَّة و شذاذ الاحزاب و نبذة الکتاب و نفثة الشیطان وعصبة الإثام و محرفـي الکتاب.»[1]

بیشکه تاسو هغه ډله یئ چې د امت طاغوت او د احزاب باقی پاتې کاسن او د کتاب لعنت کړي شوي او د شیطان او د طغیان ګرې ډلې لارویان او د قرآن له تحریف کوونکیو یئ.

روښانه ده چې دلته له تحریفه مطلب دا دی چې د قرآن معنې بل شان واخلې او له اصلي مقصده یې لرې کړې او باطل تاویلونه او فاسد توجیهونه ورته وکړې بې له کوم منلي شوي او روښانه حجت او برهانه، او د امام دا لیک چې سعد الخیر ته یې لیکلی په دې دلالت کوي چې له تحریف مطلب باطل تایلونه او د قرآن له معنو سره لوبې کوی دي. هغه حضرت علیه السلام لیکي:

و کان من نبذهم الکتاب أنْ اقاموا حروفه، و حرفوا حدوده فهم یروونه و لا یَرْعونَه... ؛

یو له هغه خیانتونو چې د خدای له کتاب سره یې کړي وو دا و چې ټکي به یط ساتل او تلاوتول به یې خو حدونه (معنې) به یې ورله تحریفول هغوی د خدای کتاب روایت کوي خو حکمونه یې نه مني.

دویمه ډله) هغه روایتونه چې وایي: ځینې آیتونه چې د امامانو نامې وې په کې او هغه حذف شوي دي:

---

۱. بحارالانوار: ټوک ٤٥، مخ ٨.

۱. په کافی کې له امام باقر علیه السلام روایت شوی دی:

«نزل جبرئیل بهذه الآیة علي محمد:

﴿وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا ـ في على ـ فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ﴾» [۱-۲]

۲. په کافی کې له ابوبصیره له امام صادق علیه السلام روایت شوی دی چې دا آیت په اصل کې داسې نازل شوی و:

﴿وَمَن يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ ـ في ولاية علي و الائمة من بعده ـ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾ [۳-٤]

۳. په کافي کې له جابره له امام باقر علیه السلام روایت شوی دی:

دا آیت په اصل کې داسې نازل شوی و:

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِ ـ في علي ـ لَكَانَ خَيْرًا﴾ [٥]

دا روایتونه له اعتباره په دې طریقې غورځیږي چې علامه مجلسی په مرآة العقول کې دا ضعیف او بې اعتباره ګڼلي دي او له دې وروسته چې

۱. بقره: (۲)، ۲۳.
۲. الکافی: ټوک ۱، مخ ٤۱۷، ح ۲٦.
۳. احزاب: (۳۳)، ۷۱.
٤. الکافی: ټوک ۱، مخ ٤۱٤، ح ۸.
٥. نساء: (٤)، ٦٦.

ملامحسن فیض کاشاني د دې روایتونو په صحیح نه شونې ټینګار کړی دی، نو ضرورت نشته چې د دې روایتونو د یو یو د سند پلټنه وشي.[1]

مرحوم خوئي لیکي:

ځینې مطلبونه چې د هغې د قرآن شونې دعوا شوې ده، هغه په اصل کې د قرآن تفسیر دي او قرآن نه دي. نو دې ته په پام په کوم روایتونه چې دا وایی چې په قرآن کې د امامانو نامې وې نو هغه تفسیر دي نه قرآن او که داسې صحیح نه وي نو باید روایتونه پریښودې شي ځکه چې د قرآن مخالف دي او د تحریف د نه منونکو روایتونو سره په ټکره دي.[2]

او که ممکن نه وي چې تفسیر یې وګڼو نو بیا هم دا روایتونه د ابوبصیر هغه صحیح روایت سره چې په کافي کې یې روایت کوی په ټکره دي، هغه وایی:

له امام صادق علیه السلام مې د دې ایت په هکله:

﴿أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ﴾[3]

پوښتنه وکړه نو په ځواب کې یې وفرمایل: «نُزِلَتْ في علي بن ابي طالب و الحسن و الحسين عليهم السلام. د على حسن او حسين عليهم السلام.»

---

۱. الوافی: ټوک ۲، مخ ۳۷۳.
۲. البیان فی تفسیر القرآن: مخ ۲۳۰.
۳. نساء: (٤)، ٥٩.

په هکله نازل شوي دي: عرض مې وکړ د امام علی علیه السلام او د اهلبیتو نامې ولې په قرآن کې نه دي راغلي؟ ویې فرمایل:

«فقولوا لهم: إنّ رسول الله ’ نزلت علیه الصلاة و لم یسمّ لهم ثلاثاً و لا اربعاً، حتی کان رسول الله ’ هُوَ الّذي فسَّر لهم ذلک.»[1]

د هغوي په ځواب کې ووایه: لمونځ د خدای په رسول نازل شو خو د رکعتونو شمېر یې په قرآن کې نه دی راغلی او هغه حضرت(ص) د رکعتونو شمېر په خپله بیان کړ.

دا روایت په هغه ټولو روایتونو حاکم دی (یعنې هغې روایتونه دې روایت سره ختمیږي) او څرګندونه یې کوي.

له دې پرته کومو کسانو چې د ابوبکر له بیعته لاس واخست، نو دې خبرې سره یې دلیل رانه وړ چې د امام علی علیه السلام نامه په قرآن کې راغلې ده. په داسې حال کې که د علی علیه السلام نامه د پیغمبر نامې سره سم په قرآن کې راغلی وې، نو ضرور به یې ورسره دلیل راوړ، ځکه چې له ټولو ښه او رسوونکی دلیل و. نو دا دلیلونه چې مو راوړل په څرګنده دلالت کړي چې د امامانو نامه په قرآن کې نه ده راغلی.

همدارنګ لاندیني روایتونه هم دې ډلې روایتونو سره تړلي شي.

---

۱. الکافی: ټوک ۱، مخ ۲۸٦، ح ۱.

۱. په کافی کې له اسبغ بن نباته روایت شوی چې له امیرالمومنینه مې واوریدل چې ویې فرمایل:

«نزل القرآن أثلاثاً، ثلثٌ فینا و في عدوِّنا و ثلثٌ سنن و امثال و ثلثٌ فرائض و احکام.»[1]

قرآن مجید په دریو برخو کې نازل شوی دی، د هغې یوه برخه یې زمونږ او زمونږ د دښمنانو په هکله ده یوه برخه یې د سنتونو او داسې نورو څیزونو په هکله ده او یوه برخه یې د فرضو او احکامو په هکله ده.

۲. په تفسیر عیاشي، کې له امام صادق علیه السلامه روایت شوی دی:

«لو قرئ القرآن کما أُنزل لالفیتنا فیه مسمّین.»[2]

که قرآن هماغه شان چې نازل شوی دی تلاوت کیدې نو تا به لیدلي وو چې زمونږ نامه هم په کې راغلی ده.

علامه مجلسی څرګندونه کړې ده چې لومړی حدیث مجهول دی او دویم حدیث عیاشي په مرسله توګه له داود بن فرقده له یوه کسه هغه ته له امامه نقل کړی دی. او د دې حدیث ضعیف شونه ښه روښانه ده. او که دا روایتونه صحیح هم وي، نو مطلب یې دا دی چې د امامانو نامې د تفسیر په شکل په قرآن کې موجودې دي نه دا چې د هغوي اصلي نامې په قرآن کې راغلي وي؛ یعنې که د ځینې آیتونو تاویل او تفسیر او شان

۱. همان: ټوک ۲، مخ ۲٦٧، ح ۲.
۲. تفسیر عیاشی: ټوک ۱، مخ ۱۳، ح ٤.

نزول یې حذف نه وې شوی، نو زمونږ نامې به دې هم هلته لیدلې وې. نو قرآن په هماغه شکل چې خدای پاك نازل کړی دی او بې د باطلو او نفاق د خیالاتو او وهمونو تفسیر شوې وې نو د امامانو نامې به دې په هغه کې لیدلې وي.

دریمه ډله) هغه روایتونه چې په قرآن کې زیاتي کمي سره تحریف ښایي:

۱. عیاشي په خپل تفسیر کې له مُیسر له امام باقر علیه السلام روایت کړي دي:

«لَولا اَنّهُ زید في کتاب الله و نقص منه، ما خُفِي حقنا على ذي حجا ولو قد قام قائمنا فنطق صدَّقَهُ القرآن.»[1]

که داسې کار نه وې شوې چې د خدای په کتاب کې کوم کمې زیاتې شوی وی، نو زمونږ حق به له حقیقت غوښتو پټ نه وی او که زمونږ قائم پاڅون وکړي نو قرآن به یې تصدیق کوي.

۲. کلیني په کافي کې او صفار په بصائر کې له جابره روایت کړی چې له امام باقر علیه السلام مې واوریدل:

«ما ادّعى احدٌ مِنَ الناس اَنّهُ جمع القرآن کلّه کما اُنزل إلاّ کذّاب و ما جمَعَه و حفظه کما أنزله اللهُ تعالى إلاّ علي بن ابي طالب و الائمة من بعدِهِ.»[2]

---

۱. تفسیر عیاشی: ټوک ۱، مخ ۱۳، ح ٦.
۲. الکافی: ټوک ۱، مخ ۲۲۸، ح ۱؛ بصائر الدرجات: مخ ۲۱۳، ح ۲.

څوک چې دا دعوا وکړي چې ټول قرآن مې هماغه شان چې نازل شوی، راغونډ کړی دی، نو دروغجن دی. قرآن مجید لکه چې څنګه خدای نازل کړی و چا نه دی راغونډ کړی مګر علی بن ابی طالب علیه السلام او له هغه وروسته امامانو.

۳. کلیني په کافي او صفار په بصائر، کې له جابره له امام باقر علیه السلام روایت کړی دی:

«ما یستطیع أحَدٌ أنْ یدعي أنّ عنده جمیع القرآن کُلُّه ظاهره و باطنه غیر الاوصیاء.»[۱]

بې له اوصیاو بل کس دا دعوا نه شي کولی چې ټول قرآن ظاهر او باطن له هغه سره دي.

دا ډله روایتونه هم د قرآن د الفاظو او متن په تحریف باندې دلالت نه کوي، ځکه چې لومړی حدیث د عیاشی له مرسلو حدیثونو دی چې کتاب او سنت او د مسلمانانو اجماع سره مخالف دی چې ټوله یوه خله دي چې په قرآن کې زیاتی نه دی شوی. خو له هغه نقصانه غرض، چې په لومړي روایت کې ورته اشاره شوې ده، هغه نقص او کمې دی چې د قرآن په تفسیر باندې د علم نه شوې او او له باطنه د نه خبریدو په سبب دی، نه هغه کمې چې په آیتونو، سورتونو او ټکو کې وي.

۱. الکافی: ټوک ۱، مخ ۲۲۸، ح ۲؛ بصائر الدرجات: مخ ۲۱۳، ح ۱.

او د امام دا قول چې فرمایی:

«و لو قد قام قائمنا فنطق صدَّقَهُ القرآن.» او که زمونږ قائم پاڅون وکړي نو قرآن به یې تصدیق کوي.

معلومه ده چې هغه قرآن چې د قائم تصدیق کوي، هغه همدا قرآن دی چې د خلکو په لاس کی دی او خلك هغه پیژني او له هغه هدایت غواړي. او که دا قرآن په حقیقت کې تحریف شوی وي، نو د قائم تصدیق نه کوي. نو د روایت معنا دا ده چې حضرت قائم (عج) به یې حقیقي معنا داسې څرګنده کړي چې هیڅ ابهام او شک به په کې نه شي پاتې او هر یو هوښیار به پوه شي چې قرآن د هغه تصدیق کوي.

په دې حالت کې که د لومړي حدیث مراد صحیح وي نو مطلب یې دا دی چې هغوي د قرآن معنې تحریف کړي دي او ځینې ځیزونه یې د قرآن معنې کې ورزیات کړي چې حقیقت لټوونکیو ته یې خبره ګډه وډه کړې ده.

د دویم روایت په سند کې عمرو بن ابی مقدام دی چې ابن غضائري[1] هغه ضعیف ګڼلی دی او د دریم روایت په سند کې منخل بن جمیل اسدی دی چې د رجال عالمانو هغه ضعیف او فاسد الروایه ګڼلی او په غلو سره یې تورن ګڼلی دی چې ډیر غالیان له هغه حدیثونه نقلوي.[2]

۱. مجمع الرجال: ټوک ٤، مخ ٢٥٧ و ټوک ٦، مخ ١٣٩؛ رجال ابن داود: ص٢١٨ و ٥١٦.

۲. همان.

او که دا فرض کړو چې دا دوه حدیثونه صحیح هم وي، نو په بله طریقه هم توجیه کیدې شي. سید طباطبائي لیکي:

د امام علیه السلام دا خبره چې فرمایی: «إنّ عنده جمیع القرآن...»، که څه هم په ظاهره یې د قرآن لفظ راوړی دی، خو کله چې عبارت ته دا قید او صفت راوړي «ظاهره و باطنه» نو مونږ ته دا ښایي چې له علمه مطلب په ټول قرآن باندې علم دی که هغه ظاهري وي او که باطني، چې د قرآن په باطن باندې بې له پیغمبر(ص) او د هغه له ځای ناستو بل څوك نه پوهیږي.[1]

سید علي بن معصوم مدني، دا دوه حدیثونه د هغه حدیثونو تر مینځ راوړي دي چې ورسره یې دلیل راوړی دی چې امیرالمومنین او د هغه اولاد د خدای په علم سره او د پیغمبر(ص) په تعلیم سره په ټول هغه څه یقیني علم سره پوهیدل چې په قرآن کې راغلي دي.

هغه یادونه کوي چې حدیثونه په دې هکله د فریقینو له خوا تواتر ته رسیدلي دي.[2]

که څه هم دا دوه روایتونه، په هغه څه معنا کوې شو چې د امیرالمومنین په مصحف کې راغلي وو. ځکه چې هغه حضرت علیه السلام به تاویل او تفسیر او شان نزول له پیغمبره صلی الله علیه و آله راخسته او په خپل

۱. الکافي: ټوک ۱، مخ ۲۲۸، په حاشیه کې.
۲. شرح صحیفه ی سجادیه: مخ ٤٠١.

مصحف کې به يې ليکه، خو دا خبرې د هغه قرآن برخه نه وې چې په پيغمبر نازل شوی و او د تبليغ حکم يې ورته شوی و.

څلورمه ډله) هغه روايتونه چې وايي چې قرآن کې د ځينو سړو او ښځو نامې مې چې حذف شوي دي:

۱. په تفسير عياشي کې په مرسله توګه له امام صادق عليه السلام روايت شوي دي:

په قرآن کې ټول تير او راتلونکي خبرې موجودې دي. په قرآن کې د ځينو سړو نامې وې چې حذف شوي دي او کيدی شي يوه نامه ډير وجوه ولري چې د خدای اوصيا په هغې پوهيږي.[1]

۲. په کافی کې له بزنطي روايت شوی دی: امام رضا عليه السلام ماته يو مصحف راکړ او ويې فرمايل: دې ته وګوره، نو ما هغه خلاص کړ او تلاوت مې کړ:

﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا...﴾[2]

نو د قريشو د اوياو کسانو نامې سره د پلارانو د نامې مې په هغه مصحف کې وليدې بيا امام عليه السلام پيغام راوليږ: «ابعث إلى المصحف»[3] مصحف ماته راوليږه.

۱. تفسير عياشی: ټوک ۱، مخ ۱۲.
۲. البينه: (۹۸)، ۱.
۳. الکافی: ټوک ۲، مخ ٦۳۱، ح ١٦.

۳. شیخ صدوق په ثواب الاعمال، کې له عبدالله بن سنان له امام صادق علیه السلام روایت کړی:

«سورة الاحزاب فیها فضائح الرجال و النساء من قریش و غیرهم. یابن سنان، إنّ سورة الاحزاب فضحت نساء قریش من العرب و کانت اطول من سورة البقرة و لکن نقصوها و حرفوها.»[۱]

په سوره احزاب کې د قریشو د سړو او ښځو بدۍ او رسوایۍ بیان شوې وې. ای د سنان زویه! سوره احزاب د عربو د ځینې ښځو بدۍ په ډاګه کړې وې او له سوره بقرې هم اوږد و خو هغه یې کم کړ او تحریف یې کړ.

په دغو کې یو روایت هم صحیح نه دی، بلکې ضعیف مرسل یا مرفوع دی. دا هم ممکنه ده چې که مونږ یې صحیح وګڼو نو دا روایتونه داسې توجیه کولی شو چې تا نامې د تفسیر او د معنې د بیان په توګه په مصحف کې راغلې وې او د خدای آیتونه نه وو. دا مطلب ملامحسن فیض کاشاني په الوافي او مرحوم خوئي په البیان کې راوې دی او د محدثانو مشر شیخ صدوق دا خبر په په ثواب الاعمال کتاب کې راوړی دی، په داسې حال کې چې په خپله په الاعتقادات کتاب کې د قرآن په نه کمیدو څرګندونه کوي او همدا په دې دلیل دی چې کله محدثان د تحریف په هکله داسې روایتونه نقلوي نو د هغې د سند په صحیح والي او دلالت په باندې عقیده نه لری.

---

۱. ثواب الاعمال: مخ ۱۰۰.

دريم) محدثانو دا روايتونه په خپلو معتبرو كتابونو كې نقل كړي دي، په داسې حال كې چې د هغوي د نظر بيانوونكي نه دي؟

جواب يې دا دی چې دا طبيعي خبره ده چې په دائرة المعارف او په بيله توګه په حديثي سرچينو كې هغه د خپل نظر خيال نه ساتي او له تير وخته داسې رواج و چې د حديثي كتابونو ليكوالانو له ټولو زيات كوشش دا و چې حديثونه راغونډ كړي او وليكي، او دا كار يې نه و چې حديثونه خوښ او وټاكي. لكه چې دا كار يې مجتهدانو ته پريښې وي چې د حكمونو د راوباسلو په وخت حديثونه خوښ او جلا كړي. له همدې سببه بايد ټول حديثي كتابونه ولټوو او نقد يې كړو او علم رجال او درايې سره صحيح حديثونه له نورو جلا كړو. ځينې مشرانو لكه مرحوم كليني، شيخ طوسي او د صحيحينو او مسانيدو خاوندانو بيلا بيل حديثونه نقل كړي دي او داسې نه وه چې څه يې ليكلي وي هغه ټول ورته قبول هم وو؛ ځكه چې په داسې حال كې به ډير حديثونه پريښودې شو او راتلونكيو كسانو ته به يوه لويه سرچينه په لاس نه ورتله. له دې پرته د اجتهاد ساحه به ډيره تنګه شوې وه او مجتهدان به له داسې ډيرو روايتونو محروم پاتې وو چې د هغې له نيغ په نيغه يا په اپوټه (مفهوم) ګټه اخسې شوې.

په هر حال كې د تحريف شبهه يوه داسې شبهه ده چې نه ښايي له دې زيات د هغې په هكله خبرې وشی، ځكه چې د يو بديهی څيز په وړاندې شبهه ده. د تحريف حديثونه پرته له دې چې يو بل سره په ټكره دي خبر واحد دي او خبر واحد د تواتر په مقابله كې نه شي ودريدی. دا قرآن چې كوم زمونږ په لاسو كې دی، هماغه قرآن دی چې په پيغمبر(ص) صلی الله

علیه و آله نازل شوی دی بې له دې چې څه ترې کم یا ورباندې څه زیات شي.

څلورم) د موجود قرآن په وړاندې د اهلبیتو(ع) دریځ

له اهلبیتو امامانو علیهم السلام روایت شوي دي چې دا موجود قرآن هماغه قرآن دی چې په پیغمبر(ص) نازل شوی دی.

که د اهلبیتو علیهم السلام سپارښتنو او حدیثونو ته وګورو، نو پوهیږو چې هغوي همدا قرآن د حکمونو دلیل، د خلکو د تربیت او د تفسیر او د فقهې د قاعدو لپاره محور ګرځولی دی او خلك یې د هم دې تلاوت، حفظ او په کې تفکر ته هڅولي دي. او همدا د دې نښه ده چې امامانو علیهم السلام دې ته ډیره پاملرنه کړې ده ګني دا حدیثونه به بیا صحیح نه وو.

دلته د اهلبیتو علیهم السلام ځینې حینې حدیثونو ته اشاره کوو:

۱. حضرت علی علیه السلام خلکو ته د قرآن سپارښتنه کړې ده او د دې قرآن علمونه یې بیان کړي دي او همدا په دې باندې دلیل دی چې موجود قرآن هماغه قرآن دی کوم چې په پیغمبر(ص) نازل شوی دی. هغه حضرت علیه السلام فرمایي:

الف) «کتاب ربّکم فیکم، مبیّناً حلاله و حرامه و فرائضه و فضائُلَهُ و ناسِخُهُ و منسوخه و رخصه و عزائمه و خاصه و عامه و عبره و أمثاله و مرسله و محدوده و محکمه و متشابهه، مفسراً مجمله و مبیّناً غوامضه، بین مأخوذ میثاق علمه، و موسَّع علی العباد في جَهْلِهِ، و بین مثبت في الکتاب فرضه، و معلومُ في السّنةِ نسخه، و واجبُ في السنَّةِ أخذه و مرخَّصُ في الکتاب

تركه، و بين واجب بوقته و زائل في مستقبله و مباين بين محارمه من كبير أوعد عليه نيرانه، او صغير أرْصد له غفرانه و بين مقبول في أدناه، موسّع في اقصاه.»[1]

د خدای کتاب ستاسو تر مينځ دی چې د حلال او حرام، واجب او مستحب، نسخ او منسوخ، مباح او ممنوع، خاص او عام، پندونو او مثالونو، مطلق او مقيد، محکم او متشابه بيانوونکی دی. د خپلو مجملو عبارتونو تفسير کوي او خپلې پټې خبرې روښانه کوي

عبارات مجمل خود را تفسير و نكات پيچيده ي خود را روشن مي كند. از واجباتي كه پيمان شناسايي آن را گرفت و مستحباتي كه آگاهي از آن ها لازم نيست.

قسمتي از احكام ديني در قرآن واجب شمرده شد كه ناسخ آن در سنت پيامبر(ص) آمده و بعضي از آن در سنت پيامبر(ص) واجب شده كه در كتاب خدا ترك آن مجاز بوده است. بعضي از واجبات، وقت محدودي داشته كه در آينده از بين رفته است. محرمات الهي از هم جدا مي باشند. برخي از آن ها، گناهان بزرگ است كه وعده ي آتش دارد و بعضي كوچك كه وعده ي بخشش داده است. و برخي از اعمال كه اندكش مقبول و در انجام بيشتر آن آزادند.

۱. نهج البلاغه: خطبه ی اول، ترجمه محمد دشتی.

ب) او فرمايي:

«أمْ أنزل اللهُ ديناً ناقصاً فاستعان بهم على إتمامه؟ ام كانوا شركاء له؟! فلهم ان يقولوا و عليه أنْ يرضى؟! ام انزل الله سبحانه دينا تاماً فقصّر الرسول عن تبليغه و ادائه؟ و الله سبحانه يقولُ:

﴿مَّا فَرَّطْنَا فِي الكِتَابِ مِن شَيْءٍ﴾»[1]

آيا خدای پاک، نیمګړې دین راولیږ او د هغې د بشپړتیا لپاره یې له هغوی مرسته غوښتې ده؟ یا ورسره هغوي په دې کې شریک دي چې څه یې زړه وغواړي وواپي او خدای وربانديې راضي شي؟ که خدای پاک یو بشپړ دین رالیږلی دی خو پیغمبر(ص) د هغې په رسولو کې سستي کړی؟ په داسې حال کې چې خدای پاک فرمايي: مونږ په دې قرآن کې هیڅ نه دي پريښې (هرڅه مو بيان کړي دي).

ح) او حارث همداني ته په یو لیک کې لیکي:

«و تمسّك بحبل القرآن و استنصحه و أحل حلاله و حرّم حرامَهُ.»[2]

د قرآن رسی ونیسه او ترې پند وغواړه او حلال یې حلال وګڼه او حرام یې حرام.

د) او فرمايي: «لقاح الايمانِ تلاوة القرآن.»[1] لقاح ايمان به وسيله ي تلاوت قرآن است.

۱. شرح نهج البلاغه: ټوک ۱، مخ ۲۸۸، خطبه ی ۱۸، ترجمه محمد دشتی.
۲. شرح نهج البلاغه: ټوک ۱، مخ ۷، خ ۱۹۸.

هـ) او په یوځای کې خلك د دې قرآن تلاوت ته هڅوي او فرمايي تدبر او فکر ورته وکړي:

«ألا لاخيرَ في قراءة ليس فيها تدبّر. ألا لاخيرَ في عبادة ليس فيها تفقّه.»[۲]

خبر شئ چې تلاوت بې له تدبره کوم خير نه لري او خبر شئ چې عبادت هم بې له تفقهه (بې له دې چې په حکمونو ښه خبرى شې) په کې کوم خير نشته.

روښانه ده چې د هغه تلاوت او فکر کوم چې امام يې سپارښتنه کړې ده په همدې قرآن کې ممکن دى نه په بل کې.

و هغه حضرت د قرآن په ستاينه کې فرمايي:

«جَعَلَهُ الله رَيَّاً لعطش العلماء و ربيعاً لقلوب الفقهاء و محاجَّاً لطرق الصلحاء و دواءً ليس بعدَهُ داءٌ و نوراً ليس مَعَهُ ظلمة.»[۳]

خداى پاك دا قرآن د عالمانو د تندې ماتوونكى او د فقيهانو د زړونو پسرلې او نيكانو د لارې روښانه كوونكى او داسې درمل چې وروسته ترې درد نه پاتې کيږي او داسې نور وګرځاوه چې هغې سره تياره نشته.

۱. غررالحکم: ش ۷٦۳۳.
۲. بحارالانوار: ټوک ۹۲، مخ ۲۱۱.
۳. نهج البلاغه: خطبه ی ۱۹۸؛ شرح نهج البلاغه، ابن أبی الحدید: ټوک ۱۰، مخ ۱۹۹.

۲. حضرت امام حسن مجتبی د قرآن په ستاینه کې فرمايي:

«إنّ هذا القرآن فيه مصابيح النور و شفاء الصدور، فليجل جال بضوئه و ليلجم الصفة، فان التلقين حياة القلب البصير كما يمشي المستنير في الظلمات بالنور.»[۱]

بیشکه په دې قرآن کې د نور څراغونه او د زړونو شفا ده پس باید هر کس د هغې د رڼا لاندې مزل وکړي او خپل ځان قرآن سره سم کړي او بیشکه چې د تلقین (د نیکوې سپاښتنه) د سترګه ور زړه ژوند دی، لکه څه رنګ چې ړوند په تیاره کې د رڼا په مرسته ګرځي.

۳. امام سجاد د قرآن د ختم په دعا کې فرمايي:

«اللّهم فاذا أفدتنا المعونة على تلاوته و سهَّلتَ جواسي السنتنا بحُسن عبارتِهِ فاجعلنا مِمَن يرعاه حق رعايته و يدين لك باعتقاد التسليم لمحكم آياته.»[۲]

ای الله! اوس چې دې د قرآن په تلاوت کې زمونږ مرسته وکړه او زمونږ ژبه دې د قرآن د ټکو په سبب روانه کړه، نو مونږ له هغه چا وګرځوه چې د قرآن د حق خیال وساتي او د محکمو آیتونو په وړاندې یې تسلیم شي.

٤. له امام باقر علیه السلام روایت دی: «إنَّ اللهَ يقول للمؤمنين:

۱. بحارالانوار: ټوک ۷۸، مخ ۱۱۲.

۲. صحیفه ی سجّادیه، دعای: ٤۲.

﴿وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ﴾

بیشکه چې خدای فرمایي: کله چې (د جمعې په لمانځه کې) قرآن لوستې شي باید وایې ورئ).[1]

او همدارنګ امام باقر علیه السلام د قرآن په ستاینه کې فرمایي:

«إنَّ للقرآنِ بطناً، و للبطن بطنٌ و له ظهرٌ و للظهرِ ظهرٌ... و لیس شيءٌ أبعد من عقول الرجال من تفسیر القرآن. إنّ الإیة لتَکون اولها في شيء و آخرها في شيء و هو کلامٌ متصلٌ یتصرف علی وجوه.»[2]

بیشکه چې قرآن باطن لري او باطن یې هم باطن لري او بیشکه چې ظاهر لري او ظاهر یې هم ظاهر لري او د انسانانو د عقلونو نه بل څه دومره لری نه دي لکه د قرآن تفسیر، بیشکه چې د آیت لومړی برخه د یو څه په هکله او اخري یې د بل څه په هکله او بیا هم یوځای ټول یو کلام دی چې بیلا بیل تفسیرونه لري.

او همدارنګ یې فرمایلي دي:

«من ختم القرآن بمکة من جُمعة الی جُمعة و أقلَّ من ذلک و اکثر و ختمَهُ یوم الجمعه، کتب اللهُ له من الاجر و الحسنات من اوّلِ جمعة کانت الی آخر جمعة تکون فیها و إنْ ختمه في سایر الایام فکذلکَ.»[3]

۱. بحارالانوار: ټوک ۹۲، مخ ۲۲۲.
۲. همان: ټوک ۹۲، مخ ۲۰.
۳. ثواب الاعمال: مخ ۱۲۵.

ځوك چې قرآن په مکه کې له يوې جمعې تر بلې جمعې ختم کړي يا له دې کم يا زيات وخت کې چې د جمعې ورځې ته يې ختم کړي، نو خدای پاك د هغه لپاره داسې اجر او نيکيانې ليکي چې د دنيا له لومړۍ جمعې تر اخرنۍ جمعې او که په نورو ورځو کې يې هم ختم کړه بيا يې هم دومره ثواب دی.

۵. علي بن سالم، له خپل پلاده نقلوی:

له امام صادق عليه السلام مې پوښتنه وکړه: ای د خدای د رسول زويه! د قرآن په هکله څه وايې؟ ويې فرمايل: «هو کلام الله و قولُ الله و کتاب الله و وحي الله و تنزيله و هو الکتاب العزيز الذي:

﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾»[۱]

قرآن د خدای کلام، د خدای خبرې، د خدای کتاب، د خدای نازله شوی وحي ده قرآن يو داسې ماتې نه خوړونکی کتاب دی چې هيڅ يو باطل په کې نه شي راتلی او د حکيم او ستايلي شوي خدای له خوا نازل شوی دی.

او همدارنګ يې وفرمايل:

«إنَّ اللهَ جَعَل و لايتنا اهل البيت قطب القرآن و قطب جميع الکتب، عليها يستدير محکم القرآن و بها يوهب الکتب و يستبين الايمان.»[۲]

۱. امالی، شيخ صدوق: مخ ۵٤۵.
۲. بحارالانوار: ټوك ۹۲، مخ ۲۷.

بیشکه خدای پاك زمونږ د اهلبیتو ولایت د قرآن قطب او د ټولو کتابونو قطب ګرځولی دی. د قرآن محکمات د هغه چاپیر ګرځي او زمونږ د ولایت په سبب کتابونه عطا کیږي او ایمان څرګندیږی او روښانیږي.

هغه همدرنګ فرمایی:

«مَنْ فَسَّرَ القرآن برأیه فاصابَ لم یؤجَر و إن أخطأ کان إثمه علیه.»[1]

چا چې قرآن په خپل نظر سره تفسیر کړ او صحیح شو، نو کوم اجر نه لري او که غلط شو نو ګناه یې په خپله غاړه ده.

لویو فقیهانو د هغه سورتونو په هلکه چې په پینځه وخته لمانځه کې یې په اونی کې لوستل مستحب دي په تفصیل سره خبرې کړي دي.[2] لکه څه رنګ چې شیخ صدوق د هر یو سورت ثواب، د هغه حدیثونو له مخې چې له امامانو راغلي دي، بیانوي.[3]

ځینې شیعه عالمان، د شیخ صدوق دغو حدیثونو ته په پام وایی چې د هغه دا نظر دی چې په قرآني نصونو کې کوم تحریف نه دی شوی.[4]

له امام باقر علیه السلام له خپل پلاره له خپل نیکه له رسول الله نقل کړي دي:

---

۱. همان: ټوك ۹۲، مخ ۱۱۰.
۲. جواهرالکلام: ټوك ۹، مخ ٤۰۰ ـ ٤۱٦.
۳. ثواب الاعمال: مخ ۱۳۰ ـ ۱۵۸.
٤. ثواب الاعمال: مخ ۱۳۰ ـ ۱۵۸.

«مَنْ قرأ عشر آيات في ليلة لم يكتب من الغافلين و من قرأ خمسين آية، كتب من الذاكرين و من قرأ مائة آية كتب من القانتين و من قرأ مائتـي آية كتب من الخاشعين و من قرأ ثلاث مائة آية كتب من الفائزين و مَنْ قرأ خمسمائة آية كتب من المجتهدين و من قرأ الف آية كتب له قنطارٌ.»[1]

څوک چې هره شپه د لسو آیتونو تلاوت وکړي نو له غافلانو نه شي ګڼلی او څوک چې پنځوس آیتونه تلاوت کړي نو له ذاکرینو ګڼل کیږي او څوک چې سل آیتونه تلاوت کړي نو له قانتینو ګڼل کیږي او څوک چې دوه سوه آیتونه تلاوت کړي له خاشعینو (له خدایه د ویریدونکیو) ګڼل کیږي او څوک چې درې سوه آیتونه تلاوت کړي له فایزینو (کامیاب شویو) ګڼل کیږي او څوک چې پینځه سوه آیتونه تلاوت کړي له مجتهدینو ګڼل کیږي او څوک چې زر آیتونه تلاوت کړي نو بې حده ثواب د هغه لپاره لیکل کیږی.

له امام صادق علیه السلام روایت شوی دی:

«... و عليكم بتلاوة القرآن فإنّ درجات الجنةِ على عدد آيات القرآن، فاذا كان يوم القيامة يقال لقارئ القرآن اقرأ وارقَ، فكلما قرأ آية رقى درجةً....»[2]

۱. الاعتقادات، شیخ صدوق: مخ ۹۳.
۲. الامالی، شیخ صدوق: مخ ۳۵۹.

د قرآن تلاوت کوئ ځکه چې د جنت درجې د قرآن د آيتونو په مطابق دي، کله چې د قيامت ورځه شي د قرآن قاري ته به ويل کيږي قرآن تلاوته او پاځه زه. نو هر يو آيت چې تلاوتوي يوه درجه به پاځه زي.

همدارنګ له امام صادق عليه السلام روايت شوی دی:

«الواجب على كل مؤمن اذا كان لنا شيعة أن يقرأ ليلة الجمعةِ بالجمعه و سبح اسم ربک الاعلى... فاذا فعل ذلک فانما يعمل بعمل رسول الله و كان جزاؤه و ثوابه على الله الجنة.»[1]

کوم مومن چې زمونږ شيعه دی پر هغه واجبه ده چې د جمعې په شپه سوره جمعه او سوره اعلى تلاوت کړي. که دا کار وکړي، نو په حقيقت کې يط د خدای د رسول په سيرت عمل کړی او د اجر يې د خدای په نږدې جنت دی.

٦. امام رضا عليه السلام د قرآن اشارې او کنايې بيان کړي او فرمايي: دا آيت: «﴿عَفَا اللهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ﴾ خدای دې تا وبخښي ولې دې هغوي ته اجازت ورکړ»، دا د دې متل په شان دی: «إياک أعني و اسمعي ياجار، يعنی لور ته يې وايم اينګورې ته يې واوره، او همدارنګ دا آيت: ﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾ که شرک وکړې نو عمل به دې له منځه يوسي. او دا آيت: ﴿وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ﴾[2] که چرې خدای ته ثابت

١. ثواب الاعمال: مخ ١٤٦.

٢. عيون اخبار الرضا: ټوک ١، مخ ٢٠٢.

قدم نه وي ساتلې، نو نږدې وه چې په هغوي تکيه وکړې، له همدارنګ متلونو دی.»

له ريّان بن صلت نقل شوي دي، امام رضا عليه السلام ته مې عرض وکړ: ای د خدای د رسول زويه! د قرآن په هکله څه وايې؟ ويې فرمايل:

«کلام الله، لاتتجاوزوه و لاتطلبوا الهدی في غيره فتضلوا.»[1]

د قرآن د خدای کلام دی، له هغې مه تيرېږئ او هدايت بې له هغه له بل څه مه غواړئ ګنې ګمراه به شي.

او په هغه څه کې چې امام رضا د مامون لپاره د اسلام او د دين شريعت په هکله ليکلي دي، راغلي دي:

«إنّ جميع ما جاء به محمد بن عبدالله هو الحق المبين و التصديق به و بجميع من مضی قبله من رُسُلِ اللهِ و انبيائه و حججهُ و التصديق بکتابه الصادق العزيز الذي:

﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾

و أنَّهُ المهيمن على الكتب كلها و انه حقٌ مِن فاتحتهِ الى خاتمته، نُؤمن بمحكمه و متشابهه و خاصه و عامه و وعده و عيده و ناسخه و منسوخه و قصصه و أخباره، لايقدر أحدُ من المخلوقين أنْ يأتي بمثله.»[2]

---

۱. همان: ټوک ۲، مخ ۵۷؛ الامالی: مخ ٥٤٦.

۲. عيون أخبار الرضا، شيخ صدوق: ټوک ۲، مخ ۱۳۰.

بيشکه کوم څه چې پيغمبر(ص) محمد بن عبدالله راوړي دي هغه ټول څرګند حق دي. او تصديق او منل د هغه ټولو حق دي چې کو پيغمبران او له هغه نه وړاندې پيغمبرانو راوړي دي او د هغه رښتونې او ماتې نه خوړونکې کتاب حق دی، هغه کتاب چې هغه ته نه باطل له مخې راتلی شي اړ نه له شان او د حکيم او ستايلي شوي خدای له لورې نازل شوی دی او بيشکه چې قرآن په ټولو کتابونو حافظ او ساتونکی دی او بيشکه چې هغه له شورو تر اخره حق دی او مونږ د هغې په محکم او متشابه، خاص او عام ښې او بدې وعدې، ناسخ او منسوخ او د هغې په کيسو او اخبارو ايمان لرو او په مخلوقاتو کې هيڅوک دا توان نه لري چې د هغې په شان کتاب راوړي.

په دې طريقه د قرآن په هکله، چې زمونږ په لاس کی دی، د اهلبيتو عليهم السلام روښانه او څرګند دريځ، چې نه پکې تحريف شته نه زياتې او نه نقصان، هر يو عاقل ته روښانيږي.

د بحث لنډيز

د روايي او تاريخي دليلونو په څېړنې سره او د څيزونو د طبيعت غوښتې له مخې، دا ثابته شوه چې قرآن مجيد ته مسلمانانو خاص پاملرنه کوله او همدا خبره د دې سبب شوه چې هيڅ ډول تحريف په کې ونه شي. او دا قرآن د يو اساسي قانون په توګه او د مسلمانانو د عقيدو، سياست او کلتور د اصلي سرچينې په توګه و.

له دې پرته، ثابته شوه چې دا قرآن د خدای د رسول په وخت کې راغونډ شوی او ليکلی شوی و، ځکه چې هغه حضرت(ص) د تيرو پيغمبرانو له

تاریخه خبر و او پوهیده چې څه رنګ تحریف کوونکیو تېر آسماني کتابونه تحریف کړي دي. او کیدی شي دا خطره قرآن ته هم راشي، له همدې سببه یې دا هڅه وکړه چې کوم څه لري هغه د حافظانو ذهن او زړه ته ورکړي او ډیر حافظان ډیر زیات کسان وو. او د پیغمبر(ص) کوشش د دې سبب شو چې قرآن مجید د هغه په زمانه کې همداسې جمع شو لکه څه رنګ چې اوس دی.

بیا د تحریف احتمالاتو ته هم پام وکړې شو او ځواب ورکړې شو چې د خلفاو په دور کې د تحریف امکان نه و ځکه چې ډیر داسې عوامل وو چې د قرآن د حفاظت سبب شو چې د خلفاو په وخت کې تحریف نه شي او له دې پرته اسلامي امت یې هم ساتنه کوله او هیڅ تحریف په کې نه دی شوی په یو ټکي کې هم او کسانو به د قرآن د حفاظت او ساتلو لپاره یو بل سره مقابله کوله او دا به یې خپله دیني ذمه ګڼله چې حفاظت یې وکړي.

او هغه روایتونه چې په حدیثي سرچینو کې راغلي دي چې دا ترې څرګندیږي چې په قرآن کې تحریف شوی دی نو هغه د دلیل وړتیا نه لري، خو یوازې هغه کسان ورسره دلیل راوړي چې غلط شوي دي او دغه روایتونه یقیني ګڼي. خو کوم کسان چې دا عقیده نه لري لکه د شیعو عالمان، نو دغه روایتونه د سند یا دلالت له مخې ضعیف ګڼي.

دا خبره سره د هغه روایتونو چې د فریقینو له خوا نقل شوي وو، روښانه شوه او له دې پرته د اهلبیتو علیهم السلام امامانو او د شیعو عالمانو له لومړۍ پیړۍ تر اوسه پورې د قرآن په سلامتۍ باندې څرګندې خبرې کړي دي. د اهل سنتو د اکثرو عالمانو دریځ همدا دی. او ډیرو سنیانو

عالمانو او شیعو پوهانو دا هڅه کړې ده چې کوم حدیثونه او دلیلونه چې ورسره د تحریف ثابتولو کوشش کیږي، په هغې نیوکې او اعتراض وکړي.

په همدې طریقې د تحریف د ثابتولو خبیث کوشش چې دې شبهې ته پراختیا ورکوي باطلیږي. هغوي دا کوشش کوي چې دا شبهه زیاته کړي او بیلا بیلو فرقو ته یې نسبت ورکړي او د دې پاک کتاب په وسیله په مسلمانانو کې اختلاف راولي.

**و آخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین**